6 ۴ March April 64

علمي اجتماعي او ادبي

وری (۱۳۴۳) لمرنی کال د (۱۹۶۴) عیسوی کال مارچ او اپریل

شمیر	مضمون	لیکوال	مخ
۱-	ټولنه له نفسي ناروغیو څخه...	دغ، جلالي څیړنه	۱
۲-	خلاصة المریدین	سید ال شاه (پولاد)	۱۶
۳-	پیر روښان بایزید انصاری	(منوهر سنګو بترا	۳۰
۴-	د پښتو شعر او ادب...	واسعي	۳۸
۵-	پوشکین یو ملي شاعرو	د معتمد شنواری ترجمه	۴۸
۶-	د پښتو اصطلاحات	حبیب الله (پښتون زوی)	۵۳
۷-	شعر	ښاغلي انور خان انوری له تیرانه	۷۲

امتیاز د پښتو ټولنې

مشر پوهاند رشتین

مسئول مدیر محمد صدیق روهي

نوی کال نوی آرزو

دزمانې څرخ وچورلید، دهسك ژوندې پیروخوړ، دنمرککوړی دوری په سیمه کښی پل کښیښود او په دې ډول په څوارلسمه پیړۍ کښی دنوی کال حساب شروع شو. دزاړه کال پاڼه واوښته دنوی کال خوږۍ وږمې په زړونو کښې هوا، په تندیو کښی رڼا او په غوټویو کښی خندا پیدا کړه. دپسرلی داعتدال غږ په ژویو کښی هرکت، په بوټو کښی تازه ګی او په بنیاد مانو کښی دبیدارۍ روح واچاوه.

موسم بدل او کال نوی شو. دکابل مجلې په (۲۳) کال کښی پل کښیښود. دې مجلې چه په تیروکلونو کښی دپښتو او پښتنو دلوړ تیا دپاره څومره خپرونې کړی دی؛ هغه هرچاته څرګندی دی او امید دی چه په نوی کال کښی به هم د پښتنو لیکوالو په مرسته د پښتو او پښتنو د ژوندانه دپاره ښې ښې خپرونې وکړی.

پښتانه وایی «له یوه لاسه ټك نه خیژی» مونږ په دې ښه پوهیږو که پښتانه مشران او پوهان له مونږ سره کومك ونه کړی او مونږ ته د مرستی لاس راونه غزوی نو په یوازی سر به داد روند پیټی څنګه دمقصد پړاو ته ورسیږی؟

مونږ دخپل مهربان پاچا او نوی حکومت له پښتنی مینی څخه ډیری هیلې او امیدونه لرو. لکه څنګه چه د مملکت په ټولو چارو کښې یو ښکاره حرکت لیدل کیږی او نوی نقشی میدان ته راوځی دغسی پښتو ټولنه هم غواړی چه د پښتو ژبې دترقۍ په لار کښې نوی نوی ګامونه واخیستی شی. د پښتو د آرزو ګانو غوټۍ وغوړیږی او د دوی دژوندانه باغ و بڼ ورسره سمسور او خیرازه شی.

خدای دې وکړی چه دکار وبار په دې روښان عصر کښی زمونږ ټولې ملی او قومی نیمګړتیاوی پوره شی او هیواد او مملکت د همایونی اعلیحضرت په لارښودنه دلوړ تیا او چټې څوکی ته ورسیږی

«رشتین»



دغ، جلالی خیرنه

ټولنه له نفسی ناروغیو څخه څنګه

ژغورل کیدای شی

پوهان وایی ټولنه هم د فرد په څیر په نفسی سیکالوژی ناروغیو اخته کیږی او داځکه چه غرایز ډیر ځله داسې کید ای شی چه د ټولنې په اجتماعی کړه وړه او اعمالو باندې داډول تسلط قا یم کړی چه د هغې سیطرې په نتیجه کښې هرو مرو ټولنه متأثر ه کړی اودټولنې په کړه وړه اغیزه څرګند ه کړ ی ....

کله داسی هم پیښه شی چه یوه اید ا لی ټو لنه د شپو و رځو د تیریدو په ترڅ کښې دطبیعی ،سیاسی ، اقتصادی ، اجتماعی چارو دعمل اوردالعمل په غولی (صحنه) دهیرې (نسیان) او ویرې (خوف) په ناروغیو اخته شی . دا ډول ناروغی هم بی له ستر و نفسی

سیکالوژی پوهانو عادی وګړی اودټولنې بابیز شخصیتونه نه وینی او تشخیص کولی خویې نشی. بشری تاریخ کښې دملتونو دد ارا ز ناروغی مثالونه اوپیښې شته دی چه پرهغوی باندې لرغونی سوابق شاهدی لی.

که څه هم دټولنو نفسی سیکالوژی ناروغی ډیر ډولونه لری مګر موږ په دې مضمون کښې داحاطې او اسانتیا په لحاظ نوموړی ناروغی دنتایجو دخرګندید وله مخې په درې ډولونو سره ویشو.

لومړی ډول: هغه ناروغی دی چه یوه ټولنه د زمانې دپیښو او دپیړیو دتیریدو په لړی کښی ورووروو په نه لیدونکی توګه له دغسی ارتجاعی ژوندانه سره مخامخ کا چه دپیسو دفشار اوکلك اغیز په سبب یوه ټولنه خپله لرغونی بنه د زیاتی مودې له پاره کورټ هیره کړی، اود شپو ورځو دبدلون په اغیز په اجتماعی کړه وړه کښې دونه وروسته پاتې شی چه خپل اصلی او اجتماعی شانیت دلاسه ورکړی او یو ګوښې شأنیت ځانته غوره کړی. په دی برزخ کښې ددغسې ټولنې د فعالیت روح بدله شی او خپل اصلی او عنعنوی مناعت هیر کاندی...

اوس نو که چیر ته ددذکر شویو ناروغیو علاج او درمل لپاره دشپو ورځو دتیریدو په لړ کښې په هغی ټولنه کښې انتباهی عوامل پوه پیاوړی درمل کوونکی رجال هم پیدا نه شی چه دهغوی دپوهې او فعالیتو او اجتماعی اخطارونو په سبب دټولنې دردونه او ناروغیو امراض وپیژنی اودوخت او ظروفو په تقاضا هغه په ډیر احتیاط ژرتر ژر معالجه نه کړی په دې صورت کښی نو دا طبیعی ده چه دنوموړی

ټولنې عجيب ژوند دخوب اواغمي ډول غوره کوي او ژرلاڅي موده وروسته داډول نتيجه ترې څرګنده شي چه نوموړي ټولنه دې ته چمتو شي چه دنامتو ملتونو له چوکاټ څخه حذف او يوبل تو کم راشي اوپرهغو باندي پهډيره اسانۍ مسلط وګرزي . دمثال په ډول دمصر لرغونۍ قطبي ټولنې هرکله چه د ځانګړيو پيښو او ارتجاعي عواملو په وجه خپل ځلاند لرغوني تاريخ هيرکړ او په لټۍ عيش اوطيش کښې ډوبه شوه نوموړي مترقي ټولنه دپردو دغلطې روزنې په سبب دورځي شپې دتيريدو په ترڅ کښې تردې اندازې کمزوري او ضعيفه شوه چه يوه کوچنۍ مفرزه تور خلق د سينا له د ښتي ورتير شو وا و د مصر په تا ريخي ټولنې مسلطشوو. تاريخوايي چه دمصر دبابليون جنګي کلا دمصريانو له عسکرو ډکه وه ـ هغه مستحکم حصا ريوه سړي په حربي خدعه فتح کړ ، دا دنه منلو خبره ده اماحقيقت هم دغسې وچه وموويل. نويو فاتحينوهغه ځاي په ځاي پاتې په مفاسدو کښې ډوبه قبطي ټولنه نه يوازې اصلاح او استيلا کړه بلکه په ډيره اسانتيا سره يې پخپل ځاي کښې منحله هم کړه چه اوس يې پته هم نشته ده .

دا يو وړوکي مثال و چه يادشو که موږ په دې باره کښې دلرغونو تاريخي ملتونو اجتماعي ټولنو دژوندانه د پيښو سببو نه لږ او ډير و څيړو دغسې لرغونۍ ټولنې په ختيځ او لويديځ کښې خورا ډيرې په نظر کښې راځي چه دنفسي او سيکالوژي نا روغيو دسرايت په علت په قطعي ډول دغسې له مترقي ژوندانه څخه ستر ګې پټې کړي او داډول له منځه وتلي دي چه نن ورځ يې نمونه هم نه څرګندېږي . ميديان ، بنتيان ، اثوريان ، کلدانيان ، بابليان

فنیقیان ، ایجنیان، دراویدیان او نور .... دنړۍ په تاریخ کښې په مترقی بڼه یووخت دنام اونښان نومیالۍ ټولنې وې چه زیاتره بشری تمدن او ثقافه دهغوی دمدنیتونو په بنسټ ودان شوی دی مگر هرکله چه دشپو ورځو په ترڅ کښې لومړی په نفسی نارو غیو او ارتجاعی پیښو اخته شوې اوبیا د ځینو عواملو په اغیز د اډول له پښو غورزیدلی دی چه نن ورځ د هغوی له ځلاند و مد نیتو نو څخه هیڅ نشته او کرده ترخاورولاندې شوی دی .

دوهم قسم ټولنی : هغه ټولنې دی چه د اجتماعی ژوندانه دځانگړیو لوښیو په ترڅ کښی هغوی هم خپل لرغونی تاریخ ، روغتیا اونبوغ دلاسه ورکړی اوبیا دیوې اوږدې مودې دپاره یې دخپل صعودی مدنیت پیاسه مخ په تنزل روانه شوی او په خاورو را پریوتلې ده اوکله داسې هم پیښه شوی چه خپل موجودیت یې هم بایللی دی .

له دغو ملتونو څخه ځینی داسې ټولنې هم په تاریخ کښی پیژنو چه له خپلو اجتماعی اوسیاسی نارو غیو څخه دچانس او تصادف په توګه بیرته روغې شوی، یعنی داډول ټولنو د ځینو نورو سمو عواملو اوخپلو ملی نوابغو دزیارزحمت اوپر له پسې فداکاریو په مرسته امکانات لاس ته وروستلی اوڅه ناڅه یې خپل لرغونی حیثیت بیرته دملتونو داجتماع په ساحه کښی اشغال کړی دی د مثال په ډول دروم مترقی ټولنې چه ډیره زمانه دزړې نړې په زیاتره برخه حکمرانی درلوده او لرغونی یو ډول اداری ،عدلی او اجتماعی قوانین یې (چه تراوسه موجوددی) د بشر دنیك مرغۍ له پاره همدغه ټولنې جوړ کړی دی رومیانو د سیاسی مهارت ، اتحاد او

اتفاق په روڼا کښې د نړۍ په لويه برخه قبضه وکړه او خو را ستر او متمدن ملتونه لکه لرغوني يو نان ، منځني ختيځ ، فينيقيه يې هم په خپله ارته امپرا طورۍ کښې ورګډ کړل. سيسرون رومي خطيب په زيات وياړ ويل :

« روم د خداي پاك له ويرې او د خپل انصاف په وجه په د رسته نړۍ استيلا کړي ده » (که څه هم دا وينا له مبالغې څخه خالي نه ده) مګر دوميان د هغې زماني مهذب او پيا وړي ټبروو چه مهم قوانين يې وضع کړي دي ...

اما هر هغه وخت چه روميانو عدالت او انصاف ته شا کړه او د عياشي او غرور په سبب يې خپل فطري شجاعت بايلو داو د زړورتيا په ځاي يې په زړونو کښې ويرې (جبن) ځاي ونيو او روما يي ټولنه په نورو اجتماعي ناروغيو هم اخته شوه دا سې وخت راغي چه هغه متمدنه زړوره ټولنه تر دې اندازي له ودې څخه ولويده چه پخپله (روم) د يوې وحشي ټولنې له خوا تسخير او لوټ شو او د روماني ټولنې ستره امپرا طوري ټوټې ټوټې او ځله وشليده مګر دا چه پوهان وايي تاريخ بير ته تکرار کيږي يوه بابيزه خبره نه ده مترقي ټولنې په اسانه نه مري، خو تر ډيري مودې وروسته نوې زمانه راغله او هغه پخواني اجتماعي لوښي بدل شوو ، دا پلاد لويديځي نړۍ دستر انقلاب اصلي زړي او پرښتي در وم له زړو کنډوالو څخه کوټي را اوچت کړ او دادبي ، هنري رونسانس په نامه يي ټولې لويديځې نړۍ ته د نهضت په ګټه سخت ټکانونه ورکړل ، په نتيجه کښې سربيره پرادبي او هنري رونسانس د ځينو پوهانو وطن پالونکو شخصيتونو د زيار زحمت او مينځ ته راتلو

په‌وچه لکه مازنی ، کاری بالډی اوداسې نورو ... دپاتې رومانی ټولنې نفسی ناروغۍ زیاتره له منځه ولاړې ، غفلت په فعالیت بدل شو اوټولنه د نوی ایټالیا په نامه بیرته د منظمو تشکیلاتو خاونده شوه په نتیجه کښې که څه هم دلرغونۍ رومانی دبدبه، زور او پر نور استیلا بیرته نوی نه‌شوه مگر بیا هم ایټالی ټولنی په نوی مدنی او ثقافتی چارو کښې په لویدیځه نړی کښې یو مترقی هواد ومنل شو...

دریم ډول : هغه ټولنې دی چه په نوی عصری نړۍ کښی یې دیادونې وړ نوم او نښان درلود او په تیرو نزدې پیړیو کښې ئې د نیك مرغه ژوند انه هنگامه په‌ختیځ اولویدیځ کښې خوراتوده انگازه درلوده او دغو ټولنو عصری اجتماع ته هم له هری طبقی څخه خوراستر میړونه وړاندی کړی دی مگر له بده مرغه په‌تیره نژدې موده کښی دځینو ناوړو پیښو په‌وجه د نفاق ، ظلم او اقتصادی تفرقی او کمزوریو په ناروغیو اخته شوی داداره کوونکو اوترادارې لاندې ټولنو ترمینځ سترې بی اعتمادۍ منځ ته‌راغلی او د هغو ټولنو ژوند یې له ناوړو نتایجو سره مخامخ کړ مگر دغه نیك مرغه ټولنی دملی استعداد دلرلو په‌وجه اودستر و نو ابغو دمنځ ته راتلو اود علمی ، ادبی ، هنری نهضتو نو د تحول په مرسته ژرتر ژره دمساعدې فضا اومؤثرو عواملو په ذریعه د ټولنې نفسی ناروغۍ اودناروغیو اعراض یې بیرته علاج کړل او داجتماع په صحنه کښې ئې بشپړه روغتیا په برخه شوه ....

د دغه نیك مرغه ملتو نو ژوندی مثالونه نوی ترکیه ، دشوروی اتحاد نوی سوسیالیستی جامعه اودفیدرالی المان اوسنۍ ټولنه ګڼله کیږی.

اوس را شودې خبرې ته چه ايا د ذکر شوو ټولنو د ارتقأ او ارتجاع يو از ينې علت څه وو چه هغه بيا د نوموړو ټولنو د نفسي اوسيکالوژي ناروغيو د علاج اودرمل باعث شو .

د سترو پوهانو او د پسيکولوجي د متخصصينو په عقيده دا اغيزناك علاج اودرمل عبارت له هغه ستري اوسمې عالي مفکورې څخه عبارت دي چه هغه مفکوره د فوق العاده زړه سواندو او پاکو سپيڅلو شخصيتونو دزيار زحمت او ښوونې اوروزنې په اثر په يوه ټولنه کښې هغه وخت منځ ته راځي چه د مفکورې بنسټ په خير او برکت اودټولنې دسعادت په غايه ودرول شي ، دامفکوره دټولنې دهر فرد په زړه اودماغ کښې داحقيقت تثبيت کړي چه د نوموړي دمفکورې عملي تطبيقات قطعاً دټولنې اوافرادو په ګټه او سعادت تمامېږي له دې وينا څخه داسې ذهنيت پيدا کيږي چه د هغې عالي مفکورې د ايجاداو علمي تطبيقاتو له پاره په يوه ټولنه کښې صالح مرکزاوستر فداکار خير غوښتونکي ښوونکي اوروزونکي لازم دي چه هغوي د نوموړي عالي مفکورې تقدس دټولنې دهر فرد په زړه او دماغ کښې دا ډول راسخ کړي چه دهغې مفکورې دساتنې او اثبات له پاره دټولنې هر فرد ځان ښندنه ، قرباني ، سعي اوفعاليت دځان فربضه وګڼي په بل عبارت دهغې عالي مفکورې درزق له پاره دټولنې دافراد وپه روح کښې هغسې روزنه اوښوونه اثر ښندي چه پخپله مربي او ښوونکي هر څه چه نورو ته دهغې سپيڅلي عالي مفکورې دتطبيق تبليغ کوي ، دي يې لومړي او رشتياني ممثل او نمونه وي .

ددې مفکورې د مصداق رشتياني صحنه داسلامي سپيڅلي دين تعليمات دي چه پخپلو پيروانو کښې يې دغسې ذهنيت قايم کړي دي

چه هیڅکله تغیر او تزلزل نه منی ، بلکه اسلام په خپله دهغو اسمانی ارشاداتو مجموعه ده چه هر مسلمان یې دټولنې په خیر او برکت هرې قربانۍ ته چمتو کړی دی ...

دمثال په دود عرب هغه بت پرسته ټولنه وه چه دبې شمیره بتانو په لمانځنه بوخت وو او دناوړو خویونو په ډنډ کښې ترهغې اندازې ډوب شوی وو چه دهرفسا دمرجع همدوی وو اسلام راغی او د توحید عقیده یې ځرګنده کړه بت پرستانو خو مرګ دژوند اخر باله اسلام داعقیده ترژوندانه وروسته اوږده کړه بت پرستو عربانو په دنیایی جزا عقیده لرله اسلام په دنیا او آخرت دواړو کښې جزا تبلیغ کړه عربانو ګرد سره له متمد نې نړۍ څخه ګوښه غوره کړی وه او له هر ډول بشری پوهنې څخه ناخبره واسلام دعلم فرضیت پرنر او ښځه اعلان کړ عرب په صحرایی ساده ژوندانه بسیاوو دښځو له اباحت، ډول ډول بداخلاقۍ ، بخل ، حسد ، انتقام یی دبدو اخلاقو اجزاوو ،او په کوچنو کوچنو بریو یې فخر کاوه اسلام پت او ناموس لازم کړ اوعرب یې له وچې بیدیا څخه ستړې ودانې نړۍ ته راوویستل. دقیصر اوخسرو ودان ملکونه یې ورپه برخه کړل نود نوی اوستړې مفکورې په رڼا کښې دلوړ واوسترو کارنا مومصد رشول ، لویو مطالبو دوی په یوه مرکز سره راغونډ کړل دیو بل د د ښمنۍ احساس یې په مشروعو انسانی افتخار اړتو بدل شو د آسمانی دین په رڼا کښې دښمنان دو ستان شول .

بت پرستان به دقبیلو په اصالت او دکورنیو په وړووړو امتیازاتو نازیدل اسلام د اتفاق ، ورور ولۍ او مساوات ترسیوری لاندې کښینول او دملکونو حکومتونو خاوندان یې وګرزول .

فردي خصومت يې په لوی اجتماعي خصومت بدل کړ اسلام د کفر دزمانې هر ډول منحرف اخلاق سم کړل او دسيکالوژی په اصطلاح تجارب په خپله د عربستان په شبېه جزيره کښې بشپړ شول انتقالي دوره داسلامي قول ، قوانينو په روڼا کښې بريالی او تکميل شوه او عواطف يې مهذب او غرايزيې دروح تابع وګرزيدل ...

شك نشته ددې ستر انتقال په ساحه کښې هغه ستره عالي مفکوره لومړی پلا دحضرت محمد صلعم امي استازی دقربانيو په برکت په ټولنه کښې تطبيق شوه او دصحرا عرب تردې درجې مهذب اوتنو ير شو چه بيانو هغوی ديوې کره اومنلي عقيدې تر سيوری لاندې دنړی په لويه برخه باندې دروحي او مادی فلسفې او دعربي ژبې او دژبې د عالي ادبياتو ، اسلامي پوهنو او قرآني احکامو په مرسته داداری ، سياسي ، اخلاقي ارشاداتو دتطبيق بنوونکی وګمارل شول ، هغوی خپله دنده هم په بريالیتوب تطبيق کړه اوپه خو را لږه موده کښې يې دخپل چټك نهضت په اغيزه داډول يو عظيم الشان اسلامي تمدن تأسيس کړچه د نور ومدنيتونو په تاريخ کښې ساری نه لری . استاذ رينو لډ نيکلسون انګريزی مستشرق دعربو د ادبياتو په تاريخ کښې داسې ليکي : داسلامي نهضت د تفسير په باره کښې موږ ته وړ داده چه يو څه توقف اوغور وکړو او په دې ځای کښې بايد د يو شمير ستر و مسلمانانو جليل شخصيتونه تريوې اندازې پورې تحليل کړو او هغوی په ډله کښې دعمر ابن خطاب لوی شخصيت خودګردو فضايلو مجموعه ده چه يو زمامدار ته لازمي ګڼله کيږی . داستر شخصيت ددې له پاره وزيږيد . چه بايد حاکم وی . دی د متجاوزو اشخاصو په مورد کښې زيږ او پرضعيفانو باندې سخت مشفق او زړه

سواندی وو ، ددې ستر مسلمان لوړ شخصیت په ګردواجتماعی حربی وسیاسی چارو کښې د بشپړ یوه شخصیت مثال ګڼل کیږی واقعاً (عمر) دهغو ټولو صفتونو لرونکی وچه ځینو د (کرومویل) په باره کښې ویلی دی ، دې شخصیت دخپل عصر زړې ټولنې په نوی قالب کښې تویې کړې او هغوی یې یو نوی ستر تحول ته تیار کړل . دعمر په کوښښ هر څه سم شول ځکه هر کله چه عرب دشرك له خیروڅخه سپیڅلی شول نو دعربستان چارې تر ټولو لومړی ترثابتو اصولو لاندی پر مخ ولاړې اوهمدا شخص وچه صالح قوتونه اوودان ښارونه یې تاسیس کړل که چیرته موږ په دې باره کښې له خپلو احساسا تو څخه ستر ګې پټې کړو نو باید ووایو چه داسلام سعادت دعمر په کفن کښې و نغښتل شو ، او س نو که چیر ته موږ له تاریخی تجربی څخه د خپلې افغانی ټولنې انتقالې دوری ته را کښته شو باید اعتراف وکړو چه یو پلو داوخت زموږ ټولنه هم سم دمکان اوزمان له تقاضو سره دنوی تحول په درشل ولاړه ده له بلې خوا مشران پوهان اودعقل اوقلم خاوندان بوخت دی چه د ټولنې حساس عناصر د مشترك هدف له پاره په کار، فعالیت ، اجتماعی تعاون اوملی تساندوکماری اود نوی ژوند او تحول په ساحه کښې ژرتر ژره دونه فاصله طی کړی چه په تیره یوه پیړی کښې یې نه ده طی کړی . ددې اهم مقصد دتکمیل له پاره لومړی پلا دملت د ټولو ډلو وحدت نظر ،وحدت عمل ، فعالیت او فداکاری لازمې دی هغه ستره عالی مفکوره چه موږ دتاریخی ټولنو دبریا لیتوب په مورد کښې ذکر کړه اوثابته موکړه چه د ټولنې ټولې نارو غی هم د دغه عالی مفکورې دتطبیق په اثر اصلاح کیږی دداسې یوی عالی مفکورې

ايجاد زموږ د افغاني ټولنې په باره کښې هم بشپړ تاثير لري خداى دى نه کا که زموږ ټولنه په دې حساس وخت کښې چه د اصلاحي پروګرامونو بريالي توب مو په کار او فعاليت اود حکومت او ملت په وحدت نظر پورې اړه لري زموږ ټولنه د يو ګام په اندازه هم له خپلو عالي مفکورې څخه منحرفه شي نو زموږ اجتماعي نهضت او زموږ اصلاحي تحول به ځاى په ځاى دريدلى پاتې شي. په دې صورت کښې به لکه ډير پلا نونه چه کله د کاغذ پر مخ ليکل کيږي او نا اجراء پاتې شي - زموږ زړه مترقي تحول به هم لکه چه هيله لرو هغسې نتيجه ورنه کړي. زما په عقيده د پښتنو د ويښتيا او هغوى د نفسي ناروغيو د درمل کولو په چاره کښې د پښتو ټولنې رول خورا اهميت لري ځکه پښتو ټولنه د هيواد هغه ثقافتي مرکز دى چه د پښتو ژبې د نوى ادب د روزنې په دنده سر بيره د ټولنې د ويښتيا او په کار ګمارلو مهمه چاره هم ور په غاړه ده- په بل عبارت د ولس، ټولنې ارتقايي ارزوګانې د پښتو ټولنې په فعاليت پورې تړلي دى او دا زموږ پښتو ټولنه ده چه د افغان اکاډمۍ په تو ګه بايد ګردې هغه ادبي ثقافتي نيمګړتياوې بشپړې کړي چه د ټولنې په باره کښې ديوې ملي اکاډمۍ دندې ګڼلى کيږي.

د دې ټولنې اعلى مؤسس لکه چه څرګند حقيقت منل شوى دى غازى اعليحضرت شهيد محمد نادر شاه دى. هغه نوميالى شخصيت د دې اکاډمۍ له جوړيدو څخه سپيڅلى او خورالويې هيلې درلودې.

زموږ همايوني اعليحضرت ګران ټولواک محمد ظاهر شاه هم پښتو ټولنې ته د افغان ملت د ملي ثقافتي او اجتماعي ادبي مرکز په

تر ګه وسعت ومانه له دې کبله دا مهال د پښتو ټولنې دنده تر دې خورا ستره ده چه موږ پښتانه لیکوال شاعران خپل ذوقی شعرونه بدلې د کابل په خورا نامتو مجله کښې تمثیل کړو په دې نژدې موده کښې چه ښاغلی پوهاند رښتین د پښتو اکاډمۍ د مشر په حیث ټاکل شوی دی موږ پښتانه لیکوال او په ځان سره زه دویلو وړ ډیرې خبرې لرو چه باید وویل شی او په ماغزو کښې ذخیره نه شی. په خوا شینۍ سره باید ووایم هغه څه چه په دې مضمون کښې وړاندې کول غواړم کومه ستاینه او غوړه مالی نه ده بلکه دیو خوا خوږی افتخاری غړی په څیر خپله انتقادی نظریه په ډیر ګرانښت په لاندې کرښو کښې وړاندې کول غواړم.

د ښه مرغه پښتو ټولنه خود نوی تشکیل په لحاظ له پخوا څخه د زیاتو څانګو لرونکی یوه عصری اکاډمی ده مدیریت یې ریاست ته جګ شو. د پوهنې وزارت د لوریدنې په سبب لویه بودجه هم ورته منلې ده په دې صورت کښې پښتانه هم د خپلې ولسی او ثقافتی ټولنې څخه ډیرې هیلې لری او غواړی د خپلې علمی اکاډمۍ د نوی نهضت څخه استفاده وکړی او د پښتو ټولنې مجلد آثار په زیات شمیر ولس ته څرګند او خپاره شی.

تر هغه ځایه چه موږ خبر یو د پښتو ټولنې د ترجمې څانګې له اردو ژبې څخه د مولانا سیفی په ذریعه وړاو ګټور آثار ترجمه کړی دی د پاړسو او عربی څخه هم کتابونه پښتو ته را اړول کیدای شی مګر هغه څه چه دلته یې باید یادونه وشی دادی.

پښتو باید د تألیف او ترجمې په وسیله ژر تر ژره علمی بڼه غوره کړی او دا ځکه تر څو چه پښتو علمی ژبه نشی او اولس د پښتو زده

کړې ته مبرم صرورت احساس نه کاندی ګرد کوښښونه بې ځایه ثابتیږی ځکه تجربې راوښوده چه پښتو د کورسونو په وسیله پر مخ نه درومی داخنډ (یعنی د پښتو د پر مختګ مانع) هغه وخت د پښتو د تعمیم دلارې څخه لری کیدای شی چه ټولنه (د پښتو د تألیف او ترجمې څانګه) بشپړه تقویه کړی او د دې خبرې استعداد ولری چه د نړۍ له ژوندیو ژبو لکه انګریزی، روسی، المانی، فرانسوی، تورکی، حتی دا مکان په صورت د جاپانی او چینائی ژبو څخه هم ګټور علمی ادبی، هنری آثار په پښتو ژبه ترجمه شی او د پښتو علمی، ادبی، هنری پانګه وسعت ومومی. نن سبا د پښتو ټولنې اساسی دنده همدا ده چه د ترجمې له اړخه ژبې ته علمی بڼه ورکړی او زده کړه یې هر څوک ځانته ضرور وګڼی. زما په عقیده تر دې چه پښتانه لیکوال له ځانه (لکه د عبقریت او زړې فلسفی په موضوع آثار ولیکی) دا ګټوره ده چه د نورو مترقی ژبو څخه مفید کتابونه ترجمه او په ولس کښې خپاره کاندی.

هغه روڼ ستوری چه د ټولنې علمی، ادبی، اجتماعی ارګان بلل کیږی د کابل مجله ده چه په هره میاشت کښې یو ځل په ۷۳ مخونو کښې خپریږی او نن سبا د پښتو نړۍ د اجتماعی نهضت چټک کاروان د دغه ستوری په رڼا کښې مخ په وړاندې درومی نو وړدا دی چه نن ورځ تر هر څه لومړی لکه د دې ارګان ادبی سویې ته کلکه پاملرنه وشی ځکه پښتانه لیکوال باید پوه اوسی چه دا هغه ادبی اجتماعی مجله ده چه په لومړیو کلو کښې د دې اثر خپرونو د ادب، اجتماع، تاریخ او ملی افتخاراتو د ژوندی کولو په ساحه کښې انتقادی، مقایسوی، تحلیلی، تتبعی بڼه درلوده او ادبی سویه یې د ملی

ثقافت په لحاظ داوسنی اوراتلونکی نسل د بشپړ استفادې وړ ګڼله کیده.

ایا نن ورځ د انصاف له مخې دا ښکلی مجله د دې په ځای چه پرمخ تللی وای څه قدر وروسته پاته نه څرګندیږی؟

دا هم باید ومنله شی چه دفیلالوژی په موضوع اوس هم د کابل په مجله کښې په زړه پورې څیړنې لوستلی کیږی مګر په عمومی توګه په دې حساس وخت کښې چه کام، هیواد دلوی اجتماعی تحول دودانی په درشل ولاړ دی او دنوی عالی مفکورې ایجاد ته سخته اړتیا لری دا مهال باید کابل مجله که دخپلې خور (آریانا) څخه داجتماعی، تاریخی خپرونو په لحاظ په مخ کښې نه شی وروسته خو باید ترې پاتې نه وی.

دتعجب خبره ده که چیرته زموږ یو ځلمی لیکوال دمضمون په فقر اخته کیږی او درحمان له دیوان څخه داورنګزیب مرثیه راکاږی او بیا حدیث هم پرې تیروی «اذکراموا تکم بالخیر» داورنګزیب یادونه که وړ وی نو باید نوموړی دخوشال خان داشعارو په ذریعه ټولنې ته ورو پیژندل شی.

ددې مضمون په ځای که څرګ د حافظ رحمت خان او د هغه د کورنۍ دنامتو غړیو په اثارو او ادبی شخصیتونو څیړنه وکړای شی یو خو به دپښتو دادبیاتو دنوی تاریخ پانګه را غونډه کړی او بل به دپښتون کام دتورې او قلم خاوندان ټولنې ته وروپیژنی موږ هیله لرو چه نور نو ځینی پښتانه لیکوال دکابل له سنګینی او درنې مجلی څخه د سینمایی اشعارو لوښی سازنه کړی ځکه ما په خپله دکابل په مجله کښې لوستی دی چه یو د استعداد خاوند لیکوال داسې زمزمه کوی:

شبنم دګل پرمخ داسې رپيږي لکه نوی ځوان چه د مستې پيغلې په سينه باندې خوځيږي.

چه دا ډول اشعار په سينمائي پاڼه کښې خپرول څه د تعجب ځای نه دی اما د کابل په درنه او تاريخي مجله کښې دا مهال چه ټولنه د انتقال په مرحله کښې د نوی تحول دښو لارو او چارو پلټنه کوی، سينمائي شعرونه د کابل په مجله کښې چاپول نه وړدی او نه لازم بلکه د عياشي غرايزو تحريك دا ډول يو ارتجاعي تبليغ دی چه د پسيکو لوژی او سيکا لوژی پوهنو په تائيد فعاليه طبقه درکود اولټۍ لورته متوجه کوی.

موږ د ښاغلي پوهاند رښتين له تجربو څخه هيله لرو چه لومړۍ پلا د کابل د مجلې ادبي معيار ته کلکه توجه وکړی پوه ځلميان، پاخه فاضلان د خپلو خپرونو په رڼا کښې د زيار زحمت او فعاليت نتايج د مقالو، پخوو ينا وو او کره کتابو ليکلو په ذريعه پښتنی ټولنې ته څرګند او پرله پسې وړاندې کړی زه او زما په شان ټول پښتانه ليکوال حاضر دی چه د کابل له درنې مجلې سره بشپړه مرسته وکړی.

ياد ګيرنه: پښتو ټولنه د ښاغلي جلالي نظريو ته د قدز په سترګه ګوری او دده او ټولو پخو ليکوالو همکارۍ ته په ډېره بې صبرۍ انتظار باسي. د ټولو په ملګرتيا دغه ډول هيلې ترسره کيدای شي. «له يوه لاسه ټپ نه خيژی» خدای دې مونږ ټولو ته سمه لار راوښيي او په سمه لار د تللو قدرت راکړی!!

(رشتين)

دقلمی نسخو دمعرفی په لړ کښې سیدال شاه «پولاد»

خلاصة الامر بدین

پښتو ټولنه د پښتنی کلچر او ثقافت دروزنې او خپرونې په لاره کښې دا ضروری ګڼی چه پخوانی لیکل شوی ادبی آثار هم راغونډ کړی او له دې لارې تر څو چه ممکنه وی د پخوانی او اوسنی ادب د مقایسې او مقابلې په سیوری کښې یو مثبت او مترقی جریان راولی .

دا فکر په علمی او سا یتیفیک اساس ولاړ دی ، ځکه تر هغې پورې چه پخوانی او اوسنی فکر او ادب سره پرتله نه شی ، د مقابلې او تصادم مرحله طی نه کړی ، نوی او مترقی جریان خو لا څه چه حرکت هم په سکون بدلیږی ؛ د ژوندانه ټول اړخونه سره شکیږی او ځای په ځای ولاړ پاتې کیږی ؛ د ساینس او هنر روابط هم له منځه ځی ، مجرد کیږی او په اصطلاح ساینس او هنر دواړه د تصوف په لومه کښې نښلی ، صوفیان کیږی او د ژوند سره خپله رابطه له لاسه ورکوی .

په داسې شرایطو کښې کلچر او ثقافت د ګډوډی خوا ته ځی ؛ معیار یتوب او ګلالی توب بایلی او د پرمختګ په لاره کښې خنډونه پیدا کیږی .

همد اوجه ده چه پښتو ټولنه د پښتنی کلچر او ثقافت د معیاری کیدو او پر مختك د پاره زاړه او قلمی آثار راغونډ وی او په وار سره یی د موضوع علاقه مندانو ته پخواتر چاپ معرفی کوی .

داده او س زه په دی سلسله کښې یو ه پښتو قلمی نسخه ګرانو لو ستونکو ته وړاندې کو م:

دا نسخه خلاصة المريدين نومیزی چه په منځنی قطع په (۱۲۸) مخو کښې لیکل شویده، مؤلف یې شمس الدین «نقشبندی» دی چه په (۱۲۲۰ھ) کال کښې یې د کندهار په کشك نخود کښې لیکلې ده، لیك یې نستعلیق او محتویات یې تصوفی مسایل دی .

دا کتاب په تصوفی لحاظ یو بشپړ او پوره اثر دی پنځلس بابونه لکه (باب در بیان علم بدن و علم دین ، باب در بیان علم طریقت، باب در بیان ثبوت طریقت ، باب در بیان سیرها ، باب در بیان عناصر اربعه ، باب در بیان رابطه مرشد و مرید، باب در بیان مخالف الشرع ، باب در بیان ناسوت و ملکوت ، باب در بیان علامت نفس، باب در بیان شرایط مرشد، باب در بیان شرایط مرید، باب در بیان نزول اصلی طریقت، باب در بیان مقامات عشره، باب در بیان سر حلقهٔ مشایخ ، باب در بیان زیارت بعد الموت) او (۲۵) زده کړی د (۱۱) پخو مأخذونو لکه (سیر الطالبین، مرآة الحقیقت ، هدایت الاعمی، رسالهٔ فتوحات مکیه ، مرغوب القلوب ، مشکوة، تفسیر حسینی ، نفحات، مرصاد العباد، رسالهٔ محمود غزنوی، مکتوبات شیخ یعقوب چرخی) په حواله لیکې .

همدار نګه د کتاب لیکونکی د خپلی تصوفي څېړنې د تقویې د پاره د ځینو فیلسوفانو او مشایخو لکه (بقراط، اسقلینوس ، جالینوس ، افلاتون ، لقمان ، شیخ شهاب الدین سهروردی، شیخ علی همدانی ،

مو لوی جام ، ابراهیم ادهم، کمیل بن زیار، سلطان عارف، شیخ عبداله، شیخ حسین، میا عبدالحکیم ، میاعبدالغفور، ویس قرنی ، امام شافعی موسی کاظم، امام محمد غزالی ، شیخ جنید بغدادی، سلمان فارسی، امام محمد باقر، زین العابدین، شیخ سعدی، رابعه بصری، شیخ ابوسعید شیخ ابو الحسن ، شیخ ابوالفرج ، شیخ عبدالرحمن، شیخ سری سقطی ، معروف کرخي ، شیخ داؤد طایي، شیخ نجم الدین رازی ، یوسف بن حجاج، شیخ جلال الدین، شیخ نجب الدین، شیخ سعید ، حافظ ، شیخ مرزا محی الدین، شیخ عبدالقادر جیلانی، بایزید بسطامی، جعفر صادق شیخ حبیب عجمی) او داسې نورو کسانو قولونه او نقلونه د استدلال په توګه راوړی .

برسېره پردې مؤلف دمختلفو تصوفی موضوعاتو په چاپیریال کښې آیتونه ، حدیثونه او ځینې مقولې هم د خپل بحث او څیړنې دخوږ والې او عام مقبولیت دپاره په دا شان وړاندې کوی چه ځان دشریعت او طریقت د ډګر پهلوان ښیی.

دکتاب په شروع کښې لومړی دا حدیث (العلم علمان علم الابدان و علم الادیان وعلم الابدان خیر من علم الادیان) راوړی او بیا د بدن علم د طبابت او طریقت په علمو ویشی، ورپسې د ځینو حاذقانو او حکیمانو لکه (بقراط ، اسقلینوس ، جالینوس ، افلاتون ، لقمان) او داسې نورو پوهانو د قول په استناد دانسان د وجود تشکیل څلور عناصر (اور ، اوبه ، باد او خاوره) بولی په همدې ډول زیاتوی چه له دې څلورو عنصرو څخه اختلاط بعه لکه (وینه ، صفرا ، سودا او بلغم) منځ ته راځی او په مزاج سره یادیږی. نو کله که نومړی اختلاط په اعتدال کښې ؤ صحت او روغتیا او که په بې اعتدالی او بې موازنه ګی کښې ؤ ،

مرضونه اوناروغتیاوې ترې را پیدا کیږی .

په کتاب کښی دې ته هم اشاره شوی ده چه که د (ینې) وینه پرنډه شي سودا، او هغه ژړ ځګ چه له سودا څخه پیدا کیږی صفرا بلل کیږی بلغم هم له دې وینې څخه راپید کیږی . یعنی دا چه د هر عنصر له فساد څخه زر مرضونه راولاړیږی.

پخوانیو یونانی حاذقانو او حکیمانو به د مختلفو مرضو او ناروغیو دپاره ډول ډول مواد سره ګډول او ناروغانو ته به یې ورکول ترڅو چه د طبعې او مزاج اعتدال راولی؛ دوی به د طبی معاینو، کتنو او مقدماتی تدابیر و دپاره د ناروغانو د نبض او بولو څخه د ناروغۍ پته لګوله او په دې عقیده وو چه د طب پوهنې اساسی او بنیادی څیزونه همدغه دوه شیان دی .

د کتاب لیکونکی دا هم په ښکاره ډول بیانوی چه ځینی ناروغۍ په دوا او درمل او ځینې په دعا، خیرات، صدقه، قرآنی آیتونو، دمونو، تعویذونو، وزیارتونو باندې رغیږی او ددې ادعا د ثبوت دپاره ډیر آیتونه، حدیثونه او د ځینو پوهانو قولونه هم راوړی .

البته دا فکر چه ځینې ناروغۍ په دعا، خیرات، صدقه او ... باندې رغیږی په خپله د طریقت او سلوک دپاره زمینه برابروی، خلک د تصرف خواته بیایی او د ساینټیفیک افکارو له ساحې وځی، دا ځکه چه د دناروغیو په مقابل کښې د مادی علاج د نه موندلو له امله په غیر مادی وسایلو لاس پورې کوی او د ناروغ د روغتیا د پاره یې درمل ګڼی .

په نوموړی کتاب کښې د پخوانیو یونانی طبی نظریاتو د وړاندې کولو نه وروسته د طریقت باب راځی . دا باب د عناصر اربعه او اختلاط اربعه په پای کښې په جواهر اربعه لکه (نفس، زړه، روح، عقل) او د هغوی

دمنزلو نولکه (ناسوت، ملکوت، جبروت، اولاهوت) په شاوخوا کښې چه سالك بايد هغه طی کړی بحث او څيړنه کوی او علاوه کوی چه لومړنی دري منزله (ناسوت، ملکوت او جبروت) دسالك دقراری او آرامی مقام ونه نه دی بلکه څلورم منزل يا مقام چه لاهوت، لامکان او محيط نومیږی دسالك دقراری او آرامی منزل دی.

د پورتنيو منزلو نود لنډ ولو لپوال مکلف دی چه دا منزلونه دشريعت، طريقت، حقيقت او معرفت په زور لنډاوود نفسی، قلبی، روحی اوعقلی مهلکاتو او خطراتو څخه ځان خلاص کړی.

سالك او متصوف دشرعی امرونو اونهيود پرځای کولو سره سره عبادت، رياضت او مجاهده له عالم ناسوت څخه راباسی اود طريقت په زوريي په عالم ملکوت کښې ورننه باسی. په طريقت کښې (۷) لطيفی، ذکر اوفکر، اوه ياخلوښت ورځی خلوت اود خپل پير دلار ښودنو دعملی کولو په برکت د لطيفو رحمانی انوار او وړانګې وينی. له دې ورو سته دحقيقت په قوت دنفس سپېڅلتوب، دزړه پاکوالی اود روح تجليات شروع کيږی اود ذوق، شوق، وجد او سکر له لارې د عالم جبروت څخه تېريږی.

او کله چه پورتنی اصول او آداب پرځای شول نود معرفت په زور د انوارو په وزرو لاهوت اولامکان ته الوزی اود ارامی او قراری مقام ته رسی. په دې مقام کښې سالك ته په فنا کښې بقا حاصله شی.

دسير اوسلوك په مسايلو کښې شريعت او ناسوت، طريقت اوملکوت حقيقت اوجبروت، معرفت اولاهوت په داسې ډول بيانيږی چه لومړی يې لاره اودوهم يې منزل، آرامګاه اوتا ټو بی دی. په دې معنی چه

سالك په سلوك کښې د پردېسی او مسافر حيثيت لری او هر ومرو به له پورتنيو منزلو څخه تېر يږی او خپل پړاو ته به ځان رسوی او بالفرض که د نوموړيو منزلو اولارو شرايط او احکام يې پر ځای نه کړل نو له يوه پړاو څخه بل پړاوته نه شی رسيدای او په لاره کښې ديوه هک پک انسان په څېر هاخوا اود پخوا ګوری. له بلې خوا که سالك په عبادت، رياضت او مجاهده کښې خواری کاږی ولې د شريعت په امرونو او نواهيو باندې نه پوهيږی او نه يې پر ځای کوی نتيجه يې په تاوان او بدعت منتهی کيږی په ډېره ملحدی کښې موحدی، ته ورسيږی، په ملحدی کښې چه کامل شی نو پير يان او شيطانان يې د غيب له چارو څخه خبروی. يا په بل عبارت استدراج ورپه برخه شی.

دطريقت لاره چه عالم ملکوت ته رسيږی هم له مهلکاتو او خطراتو څخه ډکه ده، په دې لاره کښې تګ د شريعت په اصولو کيږی او بې له دې په عالم ملکوت کښې تاوان او نقصان راځی او د استدراج او کرامت تو پير نه شی کيدای ځکه چه استدراج او کرامت دواړه سره ګډيږی او ديوه ګډ او خلط څېر پيژندنه څه آسان کار نه دی يوازې د کامل پير په لارښودنه او د پاك خدای په عنايت سره دا تو پير څرګند يدای شی. که قول او عمل يې په شريعت برابر ؤ کرامت او که نه استدراج دی.

په همدې ډول که د عشق، محبت، يقين، ذوق او شوق په حال کښې له شرعی احکامو تيری وشو نو په جبروت کښې داسې تاوان او نيمګړتياوې راځی چه رحمانی عشق او تجليات له ناری او شيطانی عمق او تجلياتو څخه نه شی بېلېدای، منتهادومره کيدای شی چه که په شريعت برابر

وی رحمانی او که نه شیطانی دی. په لاهوت کسې هم داقسم تاوان او نقصان پېښیدونکی دی، داسې چه خدایی الهام او شیطانی وسوسه، رحمانی نوری تجلیات او شیطانی ناری تجلیات بېلول او تشخیصول خو را ګران او مشکل کار دی، یو ازې د شریعت په اکسیر څز ګندیدای شی.

دطریقت په باب پسې دطریقت د ثبوت باب راځی. په دې باب کښې مؤلف یوه سلسله آیتونه او حدیثونه دطریقت د ثبوت د پاره وړاندې کوی دمثال په ډول لومړی آیت چه دطریقت د ثبوت د پاره یې راوړی دادی: فوجد عبد من عباد نا اتینا رحمة من عندنا وعلمنا من لدنا علما. په همدې ډول لومړی حدیث (ان من العلم کهیئة المکنون الا العلمأ بالله) هم بیانوی او په تفصیل او تفسیر سره نور آیتونه او حدیثونه یو په بل پسې را اخلی او دخپل تصوفی بحث مهمو ټکو ته لکه (مطمئنه نفس، اماره نفس، لوامه نفس او ملهمه نفس) دڅیړنې حد او حدود ورلنډوی.

لیکونکی په دې څلور ډوله نفس باندې اوږد بحث کوی او دځینو طب پوهانو لکه (بقراط، افلاتون، جالینوس، اسقلینوس) له قوله وایی چه نفس په معنی کښې یو، مګر د صفتونو دڅرنګوالی له امله په څلورو نومویا دیږی. اماره نفس هغه نفس ته وایی چه ټول ناوړه خویونه او اخلاق له هغې څخه رازیږیږی او دټولو پساتونو بنسټ یې ګڼی - یا په بل عبارت دحیوانی روح عمل او عکس العمل ته اماره نفس وایی. لوامه نفس ته قلب هم وایی، په دې دلیل چه له یوه حاله څخه بل حال ته اوړی، له ناوړه خویو او اخلاقو څخه راګرځی او دنیکو چارو په کولو ګوتې پورې کوی، له دی لارې د مهمه نفس سر منزل ته رسیږی، په دې مقام

کښې سړی ته سر حاصلیږی او در بانی الهام موهبه یې په نصیب شی .
ورو سته له دې د مطمئنه نفس مرحله چه پکښې د گومان او شک ټول
پیوند ونه دیقین په تیغ غو څیږی راځی .

دیقین په باب بیا لیکو نکی خپله پلټنه اور یسرچ په څلور و برخو
لکه (مقلد الیقین، عین الیقین، علم الیقین او حق الیقین) ویشی او په دې
مثال چه: «مخبر صادق زید ته وایی چه د دیوال په هاخوا کښې داور
سکروټه ده» دیقین ټولې نوعې تعریفوی .

که زید د مخبر صادق پورتنی وینا ومنی او قبوله یې کړی چه رښتیا هم
د دیوال په هاخوا کښې سکروټه شته، نو دې ډول یقین ته مقلد الیقین
وایې، او که زید د مخبر صادق په خبره د څو دلیلو نو در اوړونه ورو سته
داور په موجودیت یقین وکړی علم الیقین باله شی همدا رنگه که زید
د دیوال هاخوا اور شی او داور موجودیت پخپلو سترگو وگوری دیته
عین الیقین وایی او ورپسی که زید په هماغه اور کښې ځان لویدلی بیا
مومی او ټول صفات او مشخصات یې دهغې اور په شان شی دیته حق
الیقین وایی .

د طریقت د ثبوت په باب کښې ورو سته د رجال الغیب او
رجال الله خبر ې راځی ؛ رجال الغیب په ابطال، ابدال، ابرار،
اوتاد، نقیب اوغوث باندې ویشی .

په رجال الغیب کښې څلویښت تنه ابدال بیا په څلویښتو کښې
اووه تنه ابرار، په اوو کښې څلور یا پنځه کسه اوتاد، په څلورو کښې درې
نقیبان او په درو کښې دوه تنه قطب الاقطاب یا غوثان دی چه د نړۍ
پرکارونو باندې احاطه لری .

خلاصة المریدین دولیانو او بزرگانو مرتبې هم په څلورو برخو

ویشی: لومړی مرتبه صغرا، دوهمه وسطی، دریمه کبری، څلورمه عظمی معرفی کوی. ټول مؤمنان په صغرا، اخیاران (ابطال) په نهایت صغرا، ابدالان په اول وسطی، اوتاد په نهایت وسطی، نقیبان په اول کبری، قطب په وسط کبری، غوث په نهایت کبری مرتبه کښې اوسیږی. څلور یاران په اول عظمی، وسط عظمی اود کائناتو سردار محمد (ص) په نهایت عظمی کښې حضورلری.

رجال الله تر شمېره زیات اود حساب پته یې نشته خو دومره بایدوویل شی چه تر رجال الغیب افضل اوتل دالله په ذکر، لمانځه، زکوة اود نورو شرعی اوامرو پرځای کولو لګیادی، دنیاوی معاملات یې شاته اچولی اوهیڅ کله داسې کاروته چه ددوی ذکرالله، لمانځه او نورو شرعی کاروته تاوان رسوی اقدام نه کوی.

د رجال الغیب په سلسله کښې قطب عالم اوقطب حق هم بیا نیږی. قطب عالم په عالم صغرا (ترعرشه لاندې) او قطب حق په عالم کبری (ترعرش د پاسه) سیرلری.

د دې باب په پای کښې لیکی چه په جهان کښې د هرې بلا او پېښې مخنیوی دابدالو په دفع ونه شوه نو د نجیبانو په دعا، بیا دنقیبانو اووروسته ترټولو دغوث په دعا بلاګانې، ناروغی او حادثې رفع کیږی.

دغوث دعامستجابه اوپه هیڅ رنګ نه ردیږی.

رجال الغیب په بېلو بېلو ځایو اومحلو کښې اوسیږی، اخیاران په مصر کښې، نجیبان په مغرب کښې، ابدالان په شام کښې، نقیبان په حجاز کښې، قطب دنړۍ په ټولو خواو کښې، اوتاد په تیت او خپاره ډول په ټوله دنیا کښې اوغوث په مکه اومدینه کښې مقام لری.

دکتاب په څلورم باب کښې څلور سیرونه (سیر من الله، سیر الی الله، سیر فی الله، سیر مع الله) په دې ډول توضیح کیږی چه سیر من الله په عالم ناسوت کښې، سیر الی الله په عالم ملکوت کښې، سیر فی الله په جبروت کښې او سیر مع الله په عالم لاهوت کښې پای ته رسیږی.

دشریعت، طریقت، حقیقت او معرفت په باب وایی چه په شریعت کښې (همه ازوست = وحدة الشهود) زده کیږی، په (همه ازوست) کښې عینی ملحدان او عینی موحدان شی؛ ملحد هغه څوك دی چه کعبه او بتخانه په یوه نظر گوری او دهر ډول ټولنې دین، مذهب او پوهې زده کړه او پلټنه پرځان لازمه گڼی، دیته نه گوری چه دشریعت احکام څه وایی بلکه مقصد یې دهر علم، دین او مذهب زده کړه او پېژندگلوی وی. دموحد او ملحد په منځ کښې اساسی فرق دادی چه دموحد قول او عمل په شریعت برابر وی او د ملحد نه.

په طریقت کښې سالك د (همه اوست = وحدة الوجود) پړاو ته رسیږی او لکه څنگه چه په شریعت کښې موحدان او ملحدان پیدا کیدل په دې مرحله کښې هم ډېر پیدا کیږی.

دحقیقت په لاره کښې سالك د (درهمه دیدن اوست) مقام ته رسیږی، په دې مقام کښې هم ملحدان او موحدان هرومرو مینځ ته راځی.

په معرفت کښې سالك د (نه عین خدا باشی - نه غیر خدا) پړاو ته گامونه اخلی او داخپرنی مقام یوازینی مقام دی چه دپرلپسې کوښښو او هڅو په پای کښې سالك ته ورپه برخه کیږی.

په همدې قسم خلاصة المریدین په گڼو نورو موضوعاتو لکه (دپیر او مرید روابط، مخالف الشرع، د نفس علامې، سر حلقه مشایخ او زیارت بعد الموت) باندې داوږد و بحثونو په ترڅ کښې رڼا

اچوی ـ ولې موږ ټول پورتنی موضوعات دقلمی نسخود ښوو نو په لږ کښې نه شو څیړلی او یوازی اوس دلته دکتاب املاء سبك اوڅو نمونې وړاندې کول په خپله معرفی کښې ضرو ر ی کار بولو ا و په لاندې ډول یې املاء سبك ، نمونې ا و ځینې نور دیا دولوو ړ مباحث لو ستو نکو ته وړاندې کوو :

دکتاب املاء :دخلاصةالمریدین املاء معیاری نه ده ۰(ځ) په (څ) او په ځینو ځایو کښې (ږ) په (ژ) لیکی ۰ املایی غلطی هم ډېرې لر ی ولی که لوستو نکی ښه ورته ځیرشی ، څرګند یږ ی چه لیکو نکی دا کتاب په خپل پښتنی او سیمه ییز تلفظ اولهجه لیکلی دی ځکه چه (مدد) د(مدت)،(موجودیږی) د(موجدیږی) ، (ژوند) د(ژند)،(در از) د (ده راز)،(نقلو نه) د(نقلون)،(چه)د(چو)، داضافت علا مه(د)د(ده) په ښه لیکی ـ همد ار نګه ځا ی په ځا ی (پ)د (ف) او(ف) د (پ) په شکل کاږی ۰

دکتاب سبك: خلاصةالمریدین داخو نددر ویزه، میا رو ښا ن او ددې مکتب د نورو پیرو انو په شا ن په مقفی نثر لیکل شو ی د ی کله کله دځینو موضوعاتو دتشریح او بیان دپاره مو زو ن کلام هم استعمالوی ،جملې اوفقری د قافیی دپاره کله دومره اوږدې کړ ی چه دویو نکی څخه پکښې اصلی مطلب ورك شی ،انشایی جوړښت او ترکیب یې دعربی اوفارسی ترتأثیر لاندې راغلی د ی ـ مګر بیا هم دموضوعا تو داداء په لحاظ دهرلو ستو نکی ذو ق خپلې خوا ته را ګرځوی ۰ د ی په سر حلقهٔ مشا یخ کښې لو مړ ی د بایزید بسطا می ذکر کوی او ور پسې نو ر مشا یخ چه په د ې سلسله کښې شا مل دی په ډېر شد اومد سره معرفی کوی لکه چه په دې نمو نه کښې لیدل کیږ ی :

نمونه:

«خواجه بايزيد بسطامي سلطان عارفين و صاحب سلسسه منير پير و سيد المرسلين كما هو حقه تبع تابعين تلميذ ابو حنيفه كوفي سراج الامتين دامناقب دحضرت شيخ بايزيد بسطامي دي پاتفاق دمشايخ متقدمين هم په اتفاق دمشايخ متاخرين پنامه دسلطان عارفين قدس الله سره يادشوي مدامي دي بلكه حضرت جنيد بغدادي هسې ويلي چه بايزيد په ميان دواليان لك جبرئيل (ع) په ميان كښې دملك ؤد كل واړو فرشتگان بل يو روڅ سري سقطي پز يارت د بايزيد لره راغلي بعض واي چه شيخ احمد وو حضرت ويه ناكاه ي ابليس د خانقا په دروازه وليدلي هغه ابليس ډېر عاجزي وكړه او گريانۍ ډېره وكړه و شيخ سري سقطي ته چه ما داوار لشيخ بايزيد څخه خلاص كړه نور به وفا پخپل ميعاد كړم څو حياة يم پر نړي سري سقطي پس لسلام داويلي چه يا سلطان العارفين ابليس ځما پشفاعت خلاص كړه نور به ستا له مريدان لري څين هرچه ستا په واسطه دي پهغو به هيڅ غرض دي نكوين بايزيد ويل چه دا اقرار وو لما سره تل كړي فلان وطن كښې دما مريد ووده گمراه وسوسه كړي اوس كه خلاصي شي بيا په خپل قول بول كړي ابليس عهد وپيمان لبايزيد سره كړي لهغې روځي راهيسي په سلطان العارفين سره نومړي ...»

پورتنۍ نمونه كټه مټه په هغه املاء او انشاء ليكل شوي ده كومه چه مؤلف په كتاب كښې راوړې ده ، اوس دوهمه نمونه چه ليكونكي په هغې كښې د ناسوت او ملكوت په بيان كښې ډېر خوند ور بحث كوي په همغه املاء او انشاء لوستونكو ته معرفي كوو:

دوهمه نمونه :

« دربیان ناسوت ملکوت قوله تعالی بیده ملکوت کل شیء اولم ینظروفی ملکوة السموات یعنی مبداء ارواح روح محمد (ص) دی اومبداء دعالم ملکوة عقل ملکوة باطن جهان بولی اوظاهر جهان ناسوت بولی ناسوة ملك عالم اسفل اسم واحد دی جبروة اوعالم علیا اسم واحد دی ملکوت داسمانون وملکوة داوو زمکو هریو پخپل مناسبت سره موصوف دی لکه عالم ارواح علیا هم عالم ارواح سفلا ارواح علیا دانسانانو دملکو ارواح سفلادجن دشیاطین دحیواناة هم روح نامی هم روح جسمی په ملکوة سره یادیږی بل ملکوت نفوس علیا لکه جسم سموات وکواکب افلاك بروج سرادف ومافی علم الله بل ملکوة نفوس سفلا لك اجسام زمین مفرد مرکب مفرد لك عناصر اربعه خواص طبایع ثخن پیدا کیږی له آب خاصیت رطوبت هم طبع برودت هم دفع تشنگی له آتش حرارت احراق لخاك برودت طبع سکونت لباد امداد روح وهر طرف ته هم برودت صبیعه مرکب لکه طبایع دجمادات هم طبایع دنباتات ومافی علم الله بل ملکوت ناسوت غیب جسمانیت دنیاظلمت داپنځه سره یواسم دی بل ملکوت شهادت روحانیت آخرت هم سره یونوم دی الفاظ مترادفه هم معنی واحده بلله کیږی لکه ملك ملکوت هم سره یوشی دی چه هغه نور محمد هم وایه کیږی ... »

دریمه نمونه دمعرفت دډولونو په باب گرانو لوستونکو ته وړاندې کول غواړم - دا نمونه هم دنورو نمونو په څېر کتنه متنه له کتاب څخه را نقل شوې ده هیڅ تصرف پکښې نه لیدل کیږی او هغه داده :

دریمه نمونه:

«بل دازده کړه چه معرفت په‌دری نوع یادیږی اول معرفت عقل دواړه مخلوقات معرفت د عقل پخپل مقدار اندازه سره تل کیږی سبب‌ی حواس خمسه ظاهری مسمی کیږی لك سمع بصر ذوق ثم‌مس ویل کیږی بل معرفت نظری دی چه دخواص بر خه کیږی چه سبب خواس‌خمسهٔ باطنی دی‌لکه‌چه تیرشودا اتلس‌زره‌قام چه‌ملك ملکوة کښی تل یادیږی حلمیت ادراك پحواس خمسهٔ باطنی سره‌تل کیږی چه‌وحواس باطنی پرورش په‌قانون سره‌دشرع همیشه‌ورکه‌لملحدان به‌دی خلاص نه‌وی په‌موحدان کښی شماریږی بل‌معرفت‌خاص‌الخاص دی پکمال سرهٔ ځموږ رسول (ص‌ع‌م) خپل کړی دځن اولیا و وینم لواړو برخه کیږی له‌مرصادالعباد شمس‌الدین کشك نخودی دا بیان کیږی . . . . . »

یادونه : خلاصة‌المریدین دتصوف په‌لړ کښې یومهم اثردی ، ددې کتاب یوه بله قلمی نسخه د ادبیاتو پوهنځی په کتابخانه کښې هم شته چه په ډېر لږ تفاوت دتصوف مختلف موضوعات څیړی .

په لومړی‌وارما،غوښتل چه دا دوې قلمی نسخې سره مقایسه او پرتله کړم ولې دځینو مشکلاتو له‌املاه‌دې کارته‌ونه رسیدم‌اویوازې مې په دی قلمی نسخه چه پښتو ټولنې دخپلې کتابخانې دپاره په بیه را نیولې ده اکتفا وکړه او دومره څه مې پرې ولیکل چه گوندی دموضوع دمعرفی حق به‌ادا کړی .

خلاصة‌المریدین یوازینې کتاب‌دی چه که چاپ شی دیوه ځانگړی او بشپړ تصوفی درسی کتاب کار ترې اخیستل کیدای شی او په‌دې لاره کښې دتصوفی کورس زده کوونکو سره‌ښه‌مرسته کولای‌شی.

نومیالی پوهان

له پاکستان ټا ئمزڅخه

د منو هر سنگه بتر
پښتو ترجمه

پیر روښان بایزید انصاری

د ډاکټر ظهور الدین په قلم

.....

بایزید انصاری ته د پیر روښان لقب دهغه مریدانو ورکړی ؤچه داشخص د مغل اعظم اکبر په دوره کښې دروښانی تحریک مشراو پیاوړی مبلغ ؤ.

متعصبو مذهبی عالمانو اوخارجی لیکوالو دده په خصوص کښې دابی انصافی وکړه چه دی یې خلکو ته بی دینه اودخلکو داخلاقو خرابو ونکی معرفی کړ مگرهر کله چه دده اثار پیدااومطالعه شول نودا حقیقت څرګندشوچه بایزیدیو ډیرشریف اوپاک انسان ؤاوپه خلکو باندې یې ډیر ښه او قوی اثردرلود ـ پخواله دې چه زه داولیکم

چه لیکوالو د بایزید په خلاف کوم کوم الزامونه لګولی وو او پخوا له دې چه زه هغه رد کړم او یا یې ځوابونه ولیکم، زه د اخبره غوره ګڼم چه د هغه د ژوندانه صحیح حالات او د هغه د زیږیدنې اولو ییدلو واقعات وړاندې کړم.

زیږیدنه او کوچنی توب:

د بایزید د ژوند د حالاتو بنسټ حالنامه نومې هغه کتاب دی چه علی محمد دابو بکر قندهاری زوی لیکلی دی. او د حالنامې بنسټ د بایزید انصاری هغه سوانح دی چه ده په خپل قلم لیکلی دی. هر کله چه دی د ایوب انصاری (چه د رسول اکرم د اصحابو څخه ؤ) له پښت څخه ونوله دې کبله ده ته انصاری ویل کیږی. د ده د نسب سلسله په دې ډول بیان شوې ده.

بایزید بن عبدالله بن شیخ محمد بن شیخ بایزید پرنده بن شیخ سراج الدین بن چراغ دین بن شیخ ابراهیم دانشمند بن شیخزاده حمزه بن خواجه محمود بن شیخ داؤد بن شیخ خلیل بن شیخ نعمان بن شیخ خدا داد بن شیخ منصور بن شیخ محمد بن خواجه زید احمد انصاری بن شیخ منصور محمد بن شیخ احمد بن شیخ زاده بن خواجه ایوب انصاری.

د تذکرة الانصار مصنف د بایزید شجره نسب په پنځو بند و نو کښې په دې ډول ښود لې ده چه په هغې کښې یې د ده د کورنۍ د میندو، ماند ینو او زامنو نومونه ښودلی دی. (د اورینټل کالج میګزین، فروری ۱۹۵۵) مونږ د پورته مطلب د پوره وضاحت د پاره د الاندی شجره وړاندې کوو:



دبایزید پلار عبدالله په وزیرستان کښې اوسیده. دده نیکه شیخ محمد داسو نو تجارت کاوه او په دې سلسله کښې به هندوستان ته تلو شیخ محمد به اکثر په جالندهر کښې دخپل هغه ورور سره اوسیده چه په جالندهر کښې میشت شوی ؤ. ده یوځل دخپل ورور نه دخپل زوی

عبدالله دپاره دهغه لور وغو ښتله. ددې واده نه وروسته بایزید په جالندهر کښې په ۹۳۰ هجری کال کښې پیداشو.

عبدالله خپله کډه په جالندهر کښې پریښوده اودی خپل خوږ ملک ته ولاړ اودهغه ځای نه به یې دخپلې کډې د گو زارې د پاره پیسې رالیږلې.

په ۹۳۱ هجری کال کښې چه بابر په هندوستان حمله وکړه نو هغه پښتانه چه په جالندهر کښې یې استوگنه لرله ټول یوې خوابلې خواته خپاره شول اوپه بهار کښې یې پناه وغوښته چه په دغه ځای کښې تر دغه وخته پورې افغان لښکر یروت ؤ. لاکن اخرهغوی له دغه ځای څخه وویستل شول اودخپل ځان ساتلو دپاره وتښتیدل دعبدالله ورور خداداد دبایزید اودده دمور سره پردې بریالی شوچه وتښتی او په کاڼی گرم (وزیرستان) کښې دخپل ور ور سره یوځای شی.

زده کړه او تعلیم:

بایزید اوه کلن ؤچه کاڼی گرم ته ورسید. دده دپلار عبدالله یوه بله قبایلی ښځه وه چه د هغې څخه یې یوزوی اویوه لور پیدا شوی وو. دبایزید دمور دکوردغه وضیعت نه خوښیده. دبایزید مورسره دبنې بدسلوکۍ اود میړه سوړ وضیعت دغه حالات لاډیرخراب کړل چه په نتیجه کښې دغه کار دد وی دبیلتون سبب شو. اود دې په نتیجه کښې بایزیددمور له مینې څخه بې برخې شو. دهغه دتره خداداد قتل چه په ناخبرۍ وژل شوی ؤ دده دډیری صدمې سبب شو.

دبایزید پلار داغو ښتل چه دده زوی زما په پل روان اوزما په شان قاضی شی. عبدالله خپل زوی بایزید مکتب ته ولیږه. بایزید قرآن زده کړاو عمدة السلام، مینه، قدوری، لبوب الاخبار او داسې نور

کتابونه یې ولوستل. هر کله چه بایزید دقضا سره هیڅ مینه نه درلوده نو په دی لار کښې یې خپله مطالعه پریښو ده. یو ځل دهغه په زړه کښې دافکر پیدا شو چه دیوې قافلې سره مکې ته لاړشی او په هغه ځای کښې خپلې مطالعې ته دوام ورکړی مگر دده پلار دی دغه کار ته پری نه ښود. که څه هم بایزید په عربی گرامر ښه نه پوهیده مگر سره ددې هم ده په عربی ژبه کښې مقصود المؤمنین نومی یو کتاب ولیکه اود قرآن په آیتونو ډیر ښه پوهیده او په پوره اعتماد به یې دهغو توضیحات ورکول.

د بایزید ځلمی توب

بایزید په سوداگری او کرهڼه ګوتې پوری کړی. د ده پلار اسونه، څاروی، دکرهڼی وړځمکه او ددانو اوړه کولو یو ماشین یعنې ژرنده هم لرله څه وخت چه د ده پلار دیوې تجارتی معاملې په لړ کښې هندوستان ته روان شو نو دی هم ورسره ولاړ. لاکن دی په زړه کښې دمیری مور دبدسلوك اود خپل پلار دسوړ وضعیت څخه خپه ؤ. یو ځل د ده میرې مور په ده د غلا تور پورې کړ - په دې کار دی ډیر خواشینی شو اوددې تور دلرې کولو دپاره یې په خپل خدای قسم وخوړ - ددې د پاره چه خپل ځان دزړه له دغه نول او تکلیف څخه خلاص کړی اودهرې ورځې دشخړو اوجګړو څخه ځان بی غمه کړی په ډیره زړه ورتیایې خپل پلار ته وویل چه خپل جایداد وویشه او ماته خپله برخه راجلا کړه چه زه په خپله خوښه آزاد ژوند تیر کړم. که څه هم دعبدالله داکار خوښ نه و مگر دکلی مشرانو عبدالله دې کار ته اړ کړ او هغه داخبره ومنله. بایزید ته دجایداد په برخه کښې یو مزدور هم ورسید چه دغه مزدور

دهغه پلار په موقتي ډول دځان سره وساته او د اوعده یې وکړه چه څو ورځې پس به یې درکړم. لاکن وروسته په خپله وعده پښیمانه شو او ددغه مزدور له ورکولو څخه یې انکار وکړ. بایزید په دې کار مرور شو او خپل پلار څخه یې چه د قادري او لبوب الاخبار کتابونه شروع کړي وو دهغو درس یې پریښود (حالنامه ۴۶مخ). دې نه وروسته بایزید خپل کور برابر کړ او په تجارت یې پیل وکړ. دده خپل تره شیخ حسن لور بی بی شمسی سره نکاح وکړ.

دصداقت لټون:

بایزید په خپل ځلمی توب کښې د تفکر او عبادت سره ډیره مینه لرله او ده داسې لاری پلټلی چه دهغو په وسیله بشري ټولنه له تکلیفونو څخه خلاصه کړي. دی به د مذهبي قانون پوهانو په خپلو منځو کښې په مخالفتونو او د صوفیانو په خو د غرضیو او د عامو خلکو په منځ کښې په شخړو وو یرخواشینی کیده. دی دیو داسې شخص په تکل اولټه کښې ؤ چه هغه ده ته دانساني عظمت او دزړه دسکون لارو روښیي. هر کله چه بایزید د رسول اکرم داخبره واوریده چه ترڅو چه دانسان دخدای صحیح علم په برخه نه شي تر هغې که هغه زرکاله عبادت وکړي نو خدای به دهغه دعا او عبادت قبول نه کړي، نو په دې خبره د بایزید په فکر کښې یو نوی رنګ او قوت پیدا شو. دده دتره خداداد یو زوی خواجه اسمعیل انصاري ؤ، چه په روحانیت کښې یې ډیر شهرت درلود او بایزید دهغه نه لار ښوونه غوښتله. بایزید وایي (صراط التوحید مخ ۳-۵) چه ما دخپل پلار نه اجازه وغوښتله چه زه د خواجه اسمعیل مرید کیدلو خیال لرم، لاکن هغه وویل چه «ستا ددې کار په نتیجه کښې به په خلکو کښې زما وقار ډیر لږ شي

ځکه چه زه دشیخ محمد په دولسی زامنو کښې دټولو څخه ډیر زیات عالم او مشهور یم . او که ته زما دورور په زوی پسې د یو شاگرد په حیث ولاړشې نو دا کار به زما د بدنامۍ سبب شی او زه به له تا نه ډیر خپه شم . ته ملتان ته لاړشه او هلته دشیخ بهاؤالدین ذکریا داولادې څخه روحانی لارښوونه وغواړه . زه به تا ته دلارې خرڅ او دپیر دپاره دنذر پیسې هم درکړم» ما ورته په ځواب کښې وویل «خلك نذرونه وړاندې کوی او دهغو په عوض کښې خولۍ ، کاسه کمر بند، شجره نسب او نوری نښې راوړی مگر خدایی علم او خدایی عبادت نه راوړی» زما پلار زما په دی خبره قانع نه شو او زما خبره یی ونه منله . زه شیخ اسمعیل ته ورغلم او دهغه نه مې وغو ښتل چه ما په خپلو شاگردانو کښې شامل کړی . لاکن هغه راته وویل چه تر څو چه ته دڅه مودې دپاره سختی په ځان تیره نه کړې تر هغی به زه تا په خپلو اصولی شاگردانو کښې وانه خلم . د دی کار په نتیجه ما په خپل ضمیر تکیه وکړه او قرآن کریم مې خپل لار ښوونکی ومانه . ما قرآن شریف پرانیت او دا آیت مخی ته راغی . مونږ په بنی نوع انسان دا خبره لازمه کړی ده ، چه دخپلو والدینو خدمت وکړی او که هغوی تاسی په دې خبره مجبور کړی چه ما سره شریك پیدا کړی چه تاسو په هغه علم نه لری نو په دی کار کښې د هغو خبره مه منیء . (قرآن ۳۱-۱۳) ددې نا امیدی په اثر ما خپله لاره ونیو له او داسمعیل دمریدانو په تعقیب می په کمو خوړلو ، کمو ویلو او لږو بیده کیدلو پیل وکړ» .

بایزید دخپلو دعاگانو او روحانی وړاندې تګ په باره کښې داسی لیکی (حالنامه مخ ۲۰) ما څو میاشتی په خوشی ځای کښې یوازې

تیرې کړې او په دې موده کښې زما د خوړلو اوڅښلو شیان خلاص شوه . ما دخپل تجارت په سلسله کښې کندهار ته سفر وکړ . په هغه ځای کښې یوه واقعه پیښه شوه . اوهغه دا چه داکبر د خان خانان بیرم خان سپاهیانو دقافلې مال تالا کړ. زه د نورو سړو سره لوی منصبدار ته ورغلم اوشکایت مې ورته وکړ .

مونږ ټول دهغه داحترام دپاره دهغه په مخکښې په گونډوشو. هغه مونږ سره ددې خبرې د تحقیق وعده کړه مګر خپله وعده یې په ځای نه کړه . د دې سپك کار په ذریعه زه خپل ضمیر ملامت کړم. هر کله چه زه کور ته بیرته راغلم نو ما دا پخه اراده وکړه چه زه به تر پنځو کالو پورې یوازې استوګنه کوم. دیوازی والی په دې پنځو کلونو کښې مادخپل ځان اودخپلو میلمنو دخوړلو او څښلو په شیانو کښې کوم تکلیف اولږ والی ونه لید . خلك به ماڅخه راتلل اوما به هغو ته دانصیحت کاوه چه ښه کارونه کوىء او دبی وزلو اوبی لاسو خلکو سره مالی مرستی کوىء (نور بیا)

واسعی

د پښتو شعرا و ادب خوږي خواوې

او خوندور اړخونه

(۳)

په پورته بیت کې علاوه پردې چه د پښتنو مشهوره عنعنه سپینه ږیره یاده شوې او نمانځنې ؤ احترام ته ئې ضمنی اشاره شوې ده یوه خورا معقوله تشبیه هم ځنې حاصله شوی ده هغه دا چه سپینه ږیره په روښنائی او سپین واله کې د سپینې او روښانه روځې سره مشابه سوی او د سپین ږیر تیا په وقت کې ناروا او نا جائز اعمال او نا وړه چارې د غلا سره مشابهې سوی دی چه یو غل یې په سپینه روځ کوی بلکه په ضمن کې دا هم ځنې معلومه سوه چه توره ږیره د تورې شپې سره مشابه ده نو په توره ږیره او ځوانۍ کې ناوړه چارې داسې دی لکه د شپې غلا او په زوړ والی کې بدې چارې داسې دی لکه د روځې غلا نو لکه د شپې او د روځی غلا چه په شرم او خجالت په جنایت او قباحت کې تو پیر سره لری د غسې د زاړه او ځوان بدا خلاقی او بد عملی هم د غونه فرق او تفاوت سره لری هغه خجالت چه زاړه او سپین ږیری بدعمله ته متوجه کیږی ځوان او زلمی ته نه دی متوجه ولې سپین ږیری

بد اخلاق په سپینه روځ غلا کوی او زلمی ؤ ځوان بد اخلاقه د شپی په تیاره او د تاریکی په پرده کې کورته لویږی.

د ماشوخیل شعر او ادب که هر څو نه د ملی اخلاقو او پښتنی عنعناتو سره محشور دی د دغو نه څو ګرایه د دینی او مذهبی دودونو او مقدساتو سره هم مینه او علاقه لری. پښتانه پخپلو منصوصاتو کې داخبره ډیره ترخوله راباسی چه: «پلانی ځان یو سړی د سړو بولی» یعنی د کوم امتیاز او اهمیت یا تفوق دعوه نه لری. دا خبره که څه هم په ظاهره یوه ساده جمله ده د یوه پښتانه وینا بلل کیږی مګر په حقیقت کې یوه اساسی خبره ده او د یوه ځایه څخه راغلې او د یوې خولې څخه اوریدلی سوې ده او تر نن روځی پورې په یوه مستند اسناد ارسیدلې ده یعنی دا وینا د هغه قول مفهوم دی چه وایی: (کن فی الناس کاحد من الناس) یعنی په خلقو کې یو سړی د سړو او سه او ځان ته امتیاز او تفوق پر نورو باندې مه ور کوه.

دا خو یوه خبره ده او زیاتر وکسانو ته ور معلومه ده مګر دستاینې وړ دلته داشی دی چه ماشوخیل په خپل کلام کې د دغه مضمون په راوړ ومو فق سوی دی او په یوه داسې بڼه او پیرایه ئې افاده کوی چه د پښتو د روح او د یوه باذوقه پښتون د احساس سره توافق مومی دی وایی:

وخپل خدای ته له سړی سړی بنه ئې نه وخلکو ته خو برو شیخ و ملا

دده دا کلام چه هر یو پښتون وار وی او د هر چا چه ترغوږ سی بنه خوند ورکوی او علاوه پر ادبی او شعری بنکلا د حق او حقیقت د نقطهٔ نظره څخه بنه پرلګیږی او خوږ ؤ خوند وریې ګڼی.

دا ځکه چه د ماشوخیل ادبی مکتب او شعری اندازه په اصطلاح

(سهل ممتنع) او د نورو شعر او له لاسه نه دی سوی چه دده غوندې ساده او رنګین ووایی .

زما داعقیده ده چه ښه شاعر او خوندور کلام هغه دی چه معنی او مفهوم ابتکاری او الفاظ وکلمات ساده او رواجی وی ناما نوس او غیر مروج درانه او ثقیل نه وی دداسې ترکیبونو څخه استفاده سوی وی چه هر اورویدونکی تـه شناخته او غوږونه ور سره اشنا او بلدوی کلکوالی او زمو ختوالی او کرختی نه وی پکښې او څه نه څه دمشهورو اصطلاحاتو او مروجو مقولو څخه هم کار اخیستل سوی وی . داسې کلام طبعاً اوحتماً پرغوږ اوزړه دواړو ښه اغیزه کوی بلکه اندیښنه او خاطره ئې تر ډیرې مدې پورې د سړی سره پاتې وی اوالفاظ وکلمات ئې په مغزو او حافظه کې محفوظ او دکاڼی دلیکلې غوندې نقش مومی اوتر ډیرو وختو پورې دخوا اوخاطره څخه نه وزی.

دماشوخیل لاندې دوه بیته که څوک دسالم ذوق په ذایقه وخوندوی زموږ دپورته مدعا ښه شاهد کیدای سی اوسادګی اورنګینی دواړه پکښې څرګند دی، دی وایی :

دزخمی چه زوې درومی آرام مومی ته په تله ددې دنیا کړې واویلا
ژر به لاس دنامیندی پرتشی کښږدی چه په اهل ددنیا تړی څوک ملا

زما په خیال د ماشوخیل افتتاحیه لکه ما چه تتبع وکړه (لمړی هسکه او خوندوره افتتاحیه ده او په اوسینو دیوانو کې چه موږ ته موجود پراته دی ددې افتتاحیی ګوره او مخی نه مونده کیږی .

ښاغلی لوستونکی که د کابل مجلې (۹) ګڼې ته مراجعه وکړی اوهغه ټوټې وګوری چه موږ د متفرقو دیوانو څخه راغونډې کړی دی دا فرق او توپیر به په ښه توګه ورڅرګندسی .

عبدالله نامی یو کندهاری شاعر چه په آزاد او سرودی شعر کښې ډیرې سندرې لری هم دیوې سندرې په مقطع کښې دې موضوع ته اشاره کوی او وایی :

څو به د ژوند تاویز په غاړه ګرزوې عبدالله
خلمی دی سپین دمرګ شاهد پریږده دا عبث کارونه

په اسلامی مورالیټی او اخلاقی نړۍ کښې یوه مهمه مسئله دا ده چه څوك ځان ته په شخصیت قایل نسی او هر څوك تر ځان لوړ او هسك وبولی یا داچه خپل ځان تر هر چا کښته وګڼی او ځان ته دپښتنو خبره لو لوټه کښینږدی څوك چه دې فلسفی او دغه حقیقت ته ورسیده او دا ئې د ځان خوی او شعارو ګرزاوه دبشپړه بشر او کامل انسانیت حدود وته ورنزدې سوی دی او دانسانیت د شرافت دائرې ته ورننوتل غواړی .

دې دې ذهنیت بنسټ په اسلام او مخصوصاً په پښتنی نړۍ کښې دا عربی مقوله ده چه وایی :

« کن فی الناس کاحد من الناس »

په پښتو شعر او ادب کښې زموږ ستر شاعر عبدالحمید ماشوخیل دغه مقصد ته اشاره کوی او وایی :

وخپل خدای ته له سړ یو سړی او سه
نه وخلکو ته خو برو یه شیخ ملا

ورا : داهغه برخه ښځې او خوږه ټولنه او دخوښی وخوشالی څخه ډك جمعیت دی چه دزوم له خواڅخه دواده دورځې په مازدیګر د ناوې کور ته ورځی او په ماښام کښې ناوی دپلار دکوره څخه دخپل ځښتن (زوم) کور ته راولی ـ د ورا ښځی په ډیره

خوشحالی او فوق العاده سنګار و نو سنبال سوی او په انتها ئی تز ئینا تو سره د ناوې کورته ورځی اوهلته فقط دواده دشپې دډوډی تر خوړ لو وروسته د ناوې سره دزوم کورته راستنه کیږی نوددوی ناسته د ناوې کره بیخی لنډه وی او یو څو محدودساعتو نه ونیسی نو له دغه جهته دوی دیوه مختصر وخت دپاره د ناوې د کاله میلمنی وی دا میلمستیا په لنډ والی او اختصار کښې ضرب المثل ده او دلنډی میلمستیا دپاره یې دمثال په توګه راوړی په شعر او ادب کښې هم دا مقصد خوشی نه دی پاته سوی او ما شو خیل یې پخپل یوه شعر کښې داسې افاده کوی :

بیهوده ئې زړه تړی په ډنګ ډنګ پورې
د ګړی میلمنه وراده د ا دنیا

ماشو خیل پخپل بیت کښې دوراډنګ ډنګ ته هم اشاره کړې ده او د دنیا دژوند دډال او ډیل څخه یی دوراپه ډنګ ډنګ تعبیر کړی دی او دژوند ژر تیریده یې د هغه سره مشابه بللی دی لکه وراچه دیوه ګړی د پاره وی او ډنګ ډنګ یې ژر تیریږی دغسې دنیا او ددنیا ژوند هم دزړه دتړ لو او اعتماد وړ نه دی او هو ښیارا ن باید په مغرور نسی او زړه نه په وتړی .

پښتانه یو مشهور متل لری چه وایی « یاخپل کور یاخپل ګور » ددې متل دمفهو مه څخه پښتنو شعراوو پخپل کلام کښې استفاده کړې اوکار یې ځنې اخیستی دی . دپښتنو مقصد ددې متل څخه چه کم وخت یې راوړی داوی چه دانسان دپاره فقط یو از ې پخپل کور کښې دارام او راحت اومستریح ژوند وسایل موجود اوهم خپل کوردی چه سړی په ډاډه زړه ژوند پکښې تیرولای سی یعنی دبل ترسیوری لاندی یادبل پر ټغر اونغری دیوه سړی ژوند داضطراب اوتشویش په حال کښې وی

بلکه که څوك خپل کور او کهول خپله مېنه او دټاټو بی ځای نه ولری نو بیا هم خپل ګور او خپل قبر د بل تر کور او د نورو تر ټاټو بی ورله ښه دی .

ما شو خیل چه یو پښتون شاعر او د پښتنی ذهنیت په ټولو شرایطو متأثر او پوره په غوړ دی دې موضوع ته ورڅرمه سوی او د شعر او ادب په نړۍ کښې یې ځان ځنې وهلی او په خورا خوږه او خوندوره توګه یې تماس ور سره موندلی او وایی :

چه مې نشته همخوا به ښکلی په خوا کښې
نه دی کور په حقیقت کښې ګور دی دا

که څه هم د ماشو خیل په کلام کښې کور ځکه چه محبوبه یې پکښې موجوده نه ده ګور بلل شوی دی مګر بیا هم تشبیه هغه متل ته ورته ده چه موږ یې یادونه وکړه .

ژبه تر څټ ختل : په پښتو کښې یو مشهور متل او خپور ضرب المثل دی او په داسې مورد کښې مستعملیږی چه یو څوك ډیر بی حیا او بی شرم وی او هر چا ته رډې خبرې یا تر ځان تیر وایی ، مخصوصاً یوه لور چه د مور په مقابل کښې بی احترامی کوی او ژبه ور سره وکی نو مورد ښیرا په توګه ورته وایی :

« ژبه دې تر څټ وخیژه ! » .

ماشوخیل دا متل ډیر موزون راوړی او پخپل مورد او اصلی محل کښې یې مستعمل کړی دی او په خوابږه او خوندور طرز یې ادا کړی دی پخپل یوه بیت کښې د سوسن دګل شکل داسې ښیی لکه دچاچه ژبه تر څټ ختلی وی ، مګر دی د سوسن دګل دغه هیئت او حالت دخپل معشوق دجواب او سؤ ادب عکس العمل بولی او وایی :

ژ به وخته تر څټه

دسوسن ستا په جواب

«خبرې ښې کوې لکۍ یې کږې کوې» دا هم دپښتو یو مروج او خپور متل دی او په داسی وخت کښې ویل کیږی چه یو څوك ذو معنی او پهلو داره ویناوې تر خوله را باسی په ښکاره ښه او په دننه کښې نور څه او بله ترجمه ولری .

د اسې خبرې یعنی ذو معنی ویناوې اخلاقاً منع دی او یو سړی مخصوصاً یو پښتون هره خبره باید پاکه او سپینه وکی او د اسې وینا چه پر هره خوارا اړول کیدای سی تر خوله راونه باسې په دې باب کی هم پښتو شعر ادب پټه خوله نه دی پاته او ماشوخیل پخپل یوه شعر کښې د دې متل یوه برخه په ډیره خوږه پیرایه راوړی او دخپل مین او ګران څخه غواړی چه په سمه اوصافه ورسره او سی او په جوړه ؤروغه کښې ژوند ورسره وکری :

له حمیده سره سازشه کږې مکړه

که په سوزؤ په ګداز یې درقیب

غیر له ملته څخه پخپله دغه عبارت چه دماشوخیل په کلام کښې راغلی دی کټ مټ په محاوره کښې او س جاری دی دکندهار پښتانه ډیر یو وبل ته وایی : «کږې مکوه» نوګویا ماشوخیل قطع نظر دمتل څخه په خپل کلام کښې یوه ژوندۍ محاوره را اخیستی ده اوخپلې شعری ویناته یې خوږ رنګ اوخوندوره بڼه ورکړې ده .

په پښتو کښې یومشهور متل دی چه «هم بوره هم بدنامه» دامتل دیوې ناوړې حادثې اویوې زړه سولوونکی پیښې څخه پیدا سوی دی هغه حادثه داده چه پښتنې مندې دخپل پښتنی ژوند او مخصوص

حیاتی حالت په غوښتنه خپل واړه ماشومان اودتی کچنیان په شپه دځانه سره نزدې بیدوی او که په زانګو کښې وی هم چه په شپه وژاړی دشیدو ورکولو دپاره یې دځانه سره پرې باسی او د مور اړخ ته پروت شیدې روی په دغه وخت کښې که بعضو مندګانه خوب ورسی او تی دواړه په خوله کښې مو رد خوب په حال کښې پر راواوړی د کچنی ساه بنده او مړسی د کچنی دغه مرګ ته لاندې کیدل وایی او هغه مور چه اولاد یې په دغه ترتیب له لاسه ووزی «هم بوره او هم بدنامه» بلل کیږی.

دمتل مورد هر هغه څوك دی چه هم غجمن او هم مسئول بلل کیږی یعنی هغه څوك چه غم او مصیبت له خپله لاسه ورپیښ سوی او پخپله یې غم ځان ته جوړ کړی وی دغسې مندې چه اولاد لاندی کی اوزوی یا لور له لاسه ورکی طبعاً هم بوره او هم بدنامه (مسئوله) بلل کیږی ماشوخیل مومند دیوې بورې او بدنامې مور حالت او تا بلو خورانبه څرګنده کړی او دامتل په خپل کلام کښې داسې راوړی:

لکه ژاړی پټه خوله بوره بدنامه
هسې کاندی مین زړه آه و فغان پټ

بل ځای بیا ددغه مثل څخه کاراخلی او وایی:

عشق د بورې د بدنامې کار راوکړ
لاس په خوله اینبی ژړا کړم شب و روز

«کټوری له زانو غوښتل»: دا د پښتو یو خپور او مشهور متل دی چه دمحال او ناممکن شی یا چارې دغوښتلو یا کولو په مورد کښې مستعملیږی یعنی دیوه غیر ممکن شی وجود یا دیوې ناممکنې چارې ترسره کول داسې بلل سوی دی لکه څوك چه دزانو څخه کټوری

غواړی نو لکه د زانو څخه چه کټوری لاس ته راوستل امکان نه لری او د محالاتو څخه بلل کیږی دغسې هغه کارچه امکان یې نه وی موجودهم دمحالاتو څخه ګڼل سوی وی .

د امتل په خپل اصلی عبارت دپښتو شعرو ادب نه دی پرې ایښی او پرخپل موقع یې کار ځنې اخیستی دی لکه دماشوخیل په لاندې بیت کښې چه دښاغلو لوستونکو تر ملاحظه تیریږی :

لکه څوك چه کټوری غواړی له زانو
هسې شان شوه د وفا تمنا پوچ

خوا: په پښتو کښې عموماً دطرف، لور، سمت، اړخ په معنی دی مګر سربیره پردغومعانی ونورمعنوی اوغیرحسی مفهومونه هم لری چه هغه عبارت له طرفداری څخه دی چه وایی زه دده پر خوایم یعنی طرفداری او حمایت یې کوم بله معنی یې زړه دی لکه چه وایی خوامې ځنې توره سوه دلته خواد زړه په معنی ده یاد طبیعت په معنی لکه چه وایې: خوا یې راوړهله یعنی طبیعت مې نفرت ځنې وکی خوابدی کیدل دمعدې ضعف اود اسهال د ناروغی په معنی هم راځې .

ما شوخیل دبی وفاوالی اونیمګړتیاوو بیخوندی موضوع ته د اشارې په ترڅ کښې دې جامعې اودمعانی ؤ څخه ډکې ادبی کلمې ته لاس وراچولی دی او وایی :

هرسړی درومی تریخ حلق له دې جهانه
خوږه کړې یې خوانه ده د چا هیڅ

دلته باید داهم وویل سی چه «خوا خوږیدل» پخپله هم په پښتو ژبه کښې یوه عامه محاوره ده- اواغلباً دتهدید په مورد کښې ویل کیږی

او یو وبل ته وایي: «خوادې مه خوږ یږه» معنی دا چه مه کامیابیږې یا مه خوشحالیږې یا دې خدای مه هوسه وه.

د غمجن سړی اغلباً دارشه او عادت وی چه د غم دلاسه یې سر پر زنګانه ایښی او خپل غم اخیستی او زنګوی یې، دا ځکه چه غم یو غیر طبیعی او نا مطلوب حالت وسړی ته ور پیښوی نو د غمجن بدنی هیئت اود ناستې او ولاړې حالت هم نورمال نه وی کله یوې کله بلې خوا ته کیږی عبدالحمید دیوه مین او غمجن عاشق په نظر ځانته ګوری او همیشه مغموم او متفکر د ځانه سره د معشوق او عشق په فکر کښې سر پر زنګانه وی او دغه فکر یې بلې خوا ته نه پریږدی او نه د بلې اندیښنې وارور کوی نو ځکه دغه تا بلو ترسیموی او وایی:

واسمان ته به د شعر زینې کښیږدی

که حمید دغم له سره زنګون وکیښی

دا تعبیر او افاده یوازې د ماشوخیل په کلام کښې لیدل کیږی او د بل پښتون شاعر په دیوان یا کلام کښې یې موږ ته نخښه په نظر نه ده راغلې او یوازې دده ابتکار او خصوصیت دی.

که څه هم غمجن تیار او سر د غمه څخه پر زنګانه در لودل د بشری اوضاعو یو عادی حالت دی مګر بل کم پښتون ادیب دې حالت ته نه دی ملتفت سوی او په شعر و ادب کښې یې استفاده نه ده ځنې کړې دا ځکه تعبیرات او افادات همیشه دا بتکار او فکری قوت مولو دوی هر چیرې چه دا موجود وی خواږه تعبیرات او خوندور افادات طبعاً ځان څرګندوی او لوستونکی محظو ظوی. (نور بیا)

دمعتمد شنواری ترجمه

پوشکین یوملی شاعرؤ

لوی روسی شاعر پوشکین دنوسمې پیړۍ په لومړۍ نیمائی کښې ژوند کاوه، ده دنوی روسی ادب اوداوسنۍ روسی ادبی ژبې اساس ایښی دی؛ ده په خپلو آثارو کښې په ماهرانه او بدیعی ډول دخپل وخت غوره اودپر مختګ مفکورې ځای کړی دی.

پوشکین یوی لوړې اوشریفې کورنۍ ته منسوب ؤ، ده خپل تحصیلات په هغه لیسه کښې سرته رسولی ؤ چه دزار په محله کښې واقع وه (دغه ځای اوس د پوشکین ښار په نامه یادیږی) دغه لیسه په هغه وخت کښې ترټولو لوړه لیسه ګڼل کیده او معلمان ئې هم غوره او منلی خلك وو.

پوشکین لا په وړو کتوب کښې د اشعارو په ویلو اولیکلو پیل

کړی ؤ دده استعداد او لیاقت لا په لیسه کښې ورځ په ورځ معلومیده او انکشاف ئې کاوه، دده دځلمیتوب دوخت په اشعارو کښې هغه آهنګونه چه دده خاصه ده، لېدل کیږی او اوریدل کیږی، ده دخپلې خاورې او خپل هېواد سره مینه درلوده، دده په زړه کښې د خپل ملت عشق پروت ؤ، ده آزادی خوښوله، ده دژوند سره مینه درلوده، ده دعلم او پوهنې قدر کاوه .

پوشکین روسی آوازونه اوروسی ملی سندرې ډېرې خوښولې او په خپله هم ورباندې پوهېده، ده له خپلو ملی کېسو سره علاقه او مینه درلوده دده دائی چه یوه کلیواله ښځه وه ددغو کېسو مینه په ده کښې پیدا کړی وه، پوشکین تقریباً ټولې ملی کېسې او ملی اوازونه ددغی خپل دایی نه زده کړی وو .

دملی آثارونمونې اوموضوعات پوشکین لا په خپلې لومړۍ لویې قصیدې (روسلان اولیود میلا) کښې په ماهرانه او بدیعی ډول راوړی دی چه دغې قصیدې د ده په شهرت ډېرزیات تأثیر وکړ او همدارنګه ده دغه ملی نمونې اوموضوعات په خپلو نورو قصیدو او کیسو کښې هم ځای کړی دی. ددغه ځلمی شاعر په اشعارو او اثارو کښې دخپل وخت لوی تاریخی واقعات اوستری پېښې منعکس کیږی اولیدل کیږی، ده هغه وطنی جګړه چه په ۱۸۱۲ کال کښې پېښه شوې وه اودروسی ملت په ګټه تمامه شوه په ښه شان ترسیم کړې ده اوهم ئې د ناپلیون دحکومت اولاس نه دروسی اردو خلاصون او آزادی په خپلو آثارو کښې لیکلی ده .

په ۱۸۱۷ کال کښې چه پوشکین دلیسې نه خلاص شو اوخپل تعلیمات ئې سر ته ورسول نو دخارجه چارو په وزارت کښې مقرر شوه په دغه

وخت کښې دده مناسبات اوعلایق د درباری لویو کسانو سره چه د انقلابی حرکاتو نمایندگان وو، ښه اونژدی شول.

دزاریانو دظلم اودبزگرانو د حرکت څخه په ۱۸۱۲ کال کښې د جنگ نه وروسته په روسیه کښې یوه پټه ټولنه جوړه شوه چه هدف او مقصد ئې دپخوانی درانه قانون لغوه کول وو، ددغې ټولنې غړی اکثر نظامی افسران، وطن دوستان اود ۱۸۱۲ کال دجنگ ګډونکو ونکی وو، پوشکین ددغو ټولو دوست ؤاوټولو سره ئې علاقه درلوده، ده په خپلو آثارو او اشعارو کښې ددغو پرمختګ غوښتونکو خلکو غوره او منلی نظریات او مفکورې ځای کړی دی اوهم ئې پخوانی درونـد قانون غندلی او بد معرفی کړی دی اوخلك ئې آزادی ته ورلمسولی دی. دپوشکین سره دروسی دملت دښې اوځلاندې آیندې قوی عقیده وه، ده دغه عقیده په خپلو هغو اشعارو کښې چه د لیسې پـه وروستنـی کال کښې ئې لیکلی دی ښکاره کړی اوبیان کړې ده، ده دغه اشعار خپل ملګری ته چه دپټی ټولنی غړی ؤ وقف کړی وو،

-۲-

د پوشکین انقلابی طبیعت دخپل وخت زار (الیکساندر) تـه ښه معلوم ؤ، ده وویل چه «باید پوشکین سیبیریا ته فرار شی ده په خپلـو انقلابی اوژوندیو اشعارو ټوله روسیه دزار په مقابل کښې بد بینـه کړه، ټوله ځوانه طبقه د ده اشعارد ژبې په سروائی» همغه ؤچه پـه ۱۸۲۰ کال کښې پوشکین دروسیی جنوب ته فرار اوتبعیدشو، لومړی په کیشینوف اوبیا په ادیسا کښې ؤ مګر څلور کاله وروسته د پولیسود نظارت لاندې خپل پلرنی کلی (میخائیلو فسکای) ته راوغوښتل شو، پوشکین په دې کلی کښې دوه کاله تېر کړل، دلته ده هغه ډرامـه چه د (بریس گودونوف) په نامه یادیږی او څو کالـه وړانـدی ئې

ور باندی پیل کړی ؤ سر ته ورسوله ، ددې پرامې موضوع له روسی تاریخ نه اخستل شوې ده، دلته پوشکین هغه رومان چه په شعر باندی ئې لیکلو هم ختم کړ ، دې رومان دهغه وخت دروسی ټولنو ژوند له بز گر نه نیولی تر لوړې کورنۍ پوری ښکاره کړی ده .

په ۱۸۳۵ کال کښې زار الیکساندر مړشو، دده په ځای دده ورور نیکلای کښیناست، په دې وخت کښې په روسیه کښې انقلاب جوړشو دغه انقلاب ددیکا بریستۍ په نامه یادیږی ، دغه انقلاب ناکامه نتیجه ور کړه، دانقلاب پنځه تنه مشران ووژل شول اوپاتې ئې سیبیر یاته فرار شول، دې واقعې پوشکین ډیر خواشینی کړاوپه ډیری سختۍ ئې وزغمله، ده دانقلابیانو په منځ کښې ډیردوستان درلودل، ددې واقعی نه وروسته ډیرې میاشتې تیرې شوې ، په دې وخت کښې پوشکین پیسترپیبورگ ته راوغوښتل شو ، (زار نیکلای) خیال درلود چه پوشکین ددربار دشاعر په حیث وټاکی ، مگر پوشکین ددې کار نه ډډه کړه، هم هغه ؤ چه ده ته اجازه وشوه چه په مسکو کښې ژوند وکړی.

کوم وخت چه پوشکین مسکو ته راغی نو ښه هر کلی ئې وشو، ډیرولو یوخلکو په دې فخر کاوه چه دپوشکین سره معرفی شی ، دده ددې وخت اشعارد(زار)ددښمنۍ اودیکا بریستیانو دیادونې نه ډک دی.

په ۱۸۳۱ کال کښې پوشکین واده وکړاوډیرژر بیر ته پیسترپیبورگ ته لاړ، دده مناسبات د(زار)سره ورځ په ورځ خرابیدل او دربار یانو ورسره کینه درلوده چه دهمدې خبرو په نتیجه کښې دیو فرانسوی افسر له خوا چه د (زار) په دربار کښې ئې وظیفه درلوده ووژل شو، کوم وخت چه پوشکین زخمی شو نو داخبر ډیرزر په ټول پیسترپیبورگ کښی خپور شو، سره ددې چه هوا ډیره سړه وه دده د کور په مخکښې

شپه او ورځ په زرگونو خلك ولاړ وو او دده دوضعیت انتظاریی درلوده، دوه ورځې وروسته د همدې زخم نه یعنی د ۱۸۳۷ کال دجنوری په نه ویشتم مړشو او ددې ځوان شاعر ټولې هیلې ورسره ولاړې.

-۳-

د (۱۸۳۷) او (۱۸۳۷) کلونو په منځ کښې پوشکین ډېر غوره آثار ولیکل، دا آثار دروسی تاریخ مهم مخونه ښکاره کوی او هم دروسی دولت دمؤسس لومړی پېتر فعالیت ۱ وکارنامې ښیی.

پوشکین یو ملی شاعر او ملی لیکوال ؤ، دده نوم هر شوروی وګړی ته ښکاره دی او ټول ورسره اشنادی، دده آثار دشوروی ملت په ټولو ژبو ترجمه شوی دی او هم دنړۍ دډېرو ملتونو په ژبو دده آثار اړول شوی او لیکلی شوی دی.

پوشکین دډېرو لیکوالو او شاعرانو په آثارو تأثیر اچولی دی، دروسی ادب سترو نمایندگانو دحقایقو تمثیل په بدیعی ډول دپوشکین نه زده کړی دی او زده کوی یې.

پوشکین یو ښه کمپوزر هم ؤ، دده او پېرا دشوروی تیا ترونود صحنې څخه نه لیری کیږی بلکه په خارج کښې هم تمثیلیږی او خلك ورسره اشنادی.

پوشکین ډېر رومانونه په اشعارو لیکلی دی، ده روسی ژبه خوښوله او مینه ئې ورسره درلودله، ده روسی ژبه اعلی او غنی ښودلی ده، ده دروسی ژبې خزانه راسپړلی او ښکاره کړې ده.

دشوروی اتحاد په ډېرو ښارونو کښې دپوشکین یادگارونه او مجسمې ولاړې دی او خصوصاً هغه مجسمه چه د مسکو په مرکز کښې ولاړه ده دېر شهرت لری، ددې مجسمې په یوه اړخ دده دادوه بیتونه لیکل شوی دی:

تر ډېره پورې به زه د ملت په زړه کښې محبوب یم.
ځکه چه یو ښه احساس مې دوی کښې راپارولی دی.
بل دا چه په خپل ظالم عصر کښې ما د آزادۍ ستاینه وکړه.
او هم مې خلك وبلل چه پرېوتلو ته لاس ورکړئ.

حبیب الله (پښتون زوی)

د پښتو اصطلاحات

۱۳- کردار یې را برسېره کول

په تلفظ کښې د (کردار) دلومړی توری (ک) حرکت زور کې دی. داکلمه دیوخاص شی نوم دی. د زرملې نجونې په پېغلتوب کښې دستنې په واسطه له تارو، وریښمو، زرتارو، مریو، چرمې، ټوکرانو اوداسې نوروشیانو څخه ځینې شیان جوړوی چه هغه ته (کردار) وایی. دهرې پېغلې چه کردار ښه وی، هغه کمال داره پېغله ګڼې. ګویا د پېغلې دښه والی دثبوت دپاره یودلیل داهم دی چه باید ښه کردار یې کړی اوجوړ کړی وی.

کله چه پېغله دمیړه کورته واده شی، نو په لومړیو وختو کښې دکلی خلك اونور خپلوان ورکره ورځی اوناوی ته یو څو افغانی

دټکری (پوړنی) په نامه «وراچوی» (۱) دناوې له خواهم له هغه جوړشوی او کړی کردار څخه هریوه ته یو یوشی دهغو پیسو په بدل کښې ورکول کیږی. که دناوې کردار ښه نه وی ؛ داددې دلیل دی چه هغه ناوې په پیغلتون کښې تنبله وه ځکه چه ښه کردار (لاسی صنایع) یی نه دی کړی .

که څوك وغواړی چه دپیغلې کمال وگوری نو کرداریې رابرسپره کوی. یعنی له بوخڅې اویا له سندوك نه یې راباسی او دهغه له مخې په ناوې باندې قضاوت کوی .

اوس دې کلمې (کردار) یوه بله مجازی معنا غوره کړې ده یعنی اوس د(عیب)معناور کوی. نوکه څوك چاته ووایی چه: «اوس به دې کردار را برسپره کړم!» معنایې داده چه: «اوس به دې عیبونه ووایم!» دا اصطلاح دنرو اوښځو دواړو دپاره راځی مثلاً وایی : «کردار یې مه رابرسپره کوه !» یعنی عیبونه یی مه وایه . «کردار یې رابرسپره شو.» یعنی خلکو ته یې عیبونه معلوم شول.

«پلانی اوپلانی دخلکو ترمخ یودبل کردار را برسپره کړ.» یعنی یودبل عیبونه اوبد کارونه یې دخلکو ترمخ سره بیان کړل .

(۱) ناوې ته پیسې وراچول یعنی ناوې ته پیسې ورکول ؛ رواج ځوداسې دی چه خپل خپلوان دناوې کره ورځی. ناریښه یې ناوې نه شی لیدلای مګر ښځی یې لیدلای شی. کله چه دناوې له کوره بهرته وځی، نو یوڅو افغانی د ناوې دپوړنی په نامه دهغه کور یوه غړی ته ورکوی اوهغه یې ناوې ته وروړی. له هغې خوا څخه دناوې له لاسی صنایعو څخه یوشی ورته راوړی او ورکوی یې. هغه پیسې چه ناوې ته یې ورکوی یایې ورلېږی، دهغه سړی یا ښځې په وس او توان پورې اړه لری، له لسو افغانیو نیولې تر پنځو سوو افغانیو پورې چه هرڅو ورکوی !

۱۴ ـ پښه یې ښو یېدل

دا اصطلاح هغه وخت استعمالیږی چه یوسړی ته دسهوې، خطا اویا ناپوهی په وجه هغه ورپېښ شی چه دی یې نه غواړی او پرې ناراضه وی.

که څوك په کوم کار کښې دناپوهی یاسهوې اویاخطایی په سبب دمثبتې نتیجې پرځای منفی نتیجې ته ورسیږی او یایې څوك وغولوی اودخپلو شخصی مفادو اوغرضونو دپاره یې استخدام کړی، نوخلك وایی: «پښه یې وښو یېدله.» یعنی وغولیده، خطاشو اوتېروت. همدا رنګه که څوك کوم بدکارو کړی، دهغه دپاره هم دا اصطلاح راځی مثلاً: «پښه یې وښو یېدله.» یعنی په بده لاره ولاړ اوهغې بدکار یې وکړ چه ده هیڅکله نه غوښتل چه ویې کړی.

۱۵ـ غاړه ترې غړول

دا اصطلاح په دوه ځایو کښې استعمالیږی: یوداچه کوم وخت چه پلار خپل زوی اویایو څوك بل چاته یو کار وروسپاری اوهغه دهغه کار له کولو اوسرته رسولو څخه په چل ول کښې ځان خلاصوی نوخلك وایی: «پلانی دپلانی کارله کولو نه غاړه غړوی.»

دوهم داچه که چېرې ددوو کسو سره دعوه وی اولاروني دوی ته لار ورتېره کړی اودعوه یې فیصله کړی اوبیا له هغو دوو کسو نه کوم یوهغه لار (فیصله) ونه منی، نوخلك وایی: «احمد دمر کچیا نو له فیصلې نه غاړه وغړوله.»

لنډه داچه «غاړه ترې غړول» یعنی له یوشی نه په چل ول سره ځان خلاسول او یایوشی ته تن نه ورکول اوهغه ردول دی.

په سامانو غږېدل

۱٦-- یا:

په سامانو تلل

ددې اصطلاح دشرح کولو په ترڅ کښې مونږ اړیو چه د(سامانې) په باره کښې هم څه ووایو. ښاغلی عبدالحی حبیبی دپښتو ادبیاتو تاریخ دلومړی ټوک په (۷۸) مخ کښې داکلمه څېړلی ده او مونږ یې دلته لنډیز را اخلو:

«سامانه، په پخوانو اریائیانو کښې دیوې مشهورې مېلې نوم ؤ چه په پراخ اوارت میدان کښې به کېدله. نرو، ښځو، کوچنیانو او لویانو به ټولو ګډون پکښې کاوه. په دې مېله کښې به هرچا خپل هنر او کمال څرګنداوه، دتظاهر او نمایش عملیات به اجراء کېدل. هلته قوت، هنر، حسن اوجمال ټول خلکو ښکاره کول حتی پېغلو به مېړو نه هم خوښول. ګو یا دا مېله په حقیقت کښې یو نمایش ؤ.

اوس هغه دمېلې مفهوم له دې کلمې نه تللی او اصلی مقصد (نمایش اوتظاهر) پکښې پاتی شوی دی. یعنی سامانه: تظاهر، نمایش اوپه فخرسره څرګندولو ته وایی مثلاً: «پلانی سامانې کوی.» یعنی تظاهر اونمایش کوی اوځان ښکاره کوی. سامانه ګرهم متظاهر او نمایشی سړی ته وایی.»

«په سامانو تلل یا په سامانو غږېدل» یعنی په کبر اوخود نمایی تلل یا غږېدل!

نو دا اصطلاح تل دهغه چادپاره راځی چه (تلل) یا (غږېدل) یې له عادی حال سره تو پیرولری اوفرق پیدا کړی اویوډول ساختګی پکښې ولیدله شی.

نو «په سامانو تلل» یا «په سامانو غږ پدل» په کبر، غرور او خود نمایی تلل او غږ پدل دی او تل له عادی حال نه فرق لری. کله چه څوك په کبر، غرور او خود نمایی سره روان وی او یا تظاهری خبرې کوی، نو خلك وایی: «پلانی ډېر په سامانو ځی.» یا: «ډېر په سامانو غږ پری.»

یو شاعر وایی: «راغی ابوجهل کافر نبی ته په سامان.» په هند کو کښې دغریب، خوار کبرجن او متظاهر په باب کښې وایی: «سامانه بهت بهت روټی کوچ نهی هې.» مرحوم شاعر فقیر محمد زرمتی د (سامانې) کلمه داسې راوړی:

«راغله په موسم د ځوانی زلفې یې سمسورې دی
تګ په سامانو کړی په کجلو یې سترګې تورې دی»

۱۷- هسکه غاړه ګرځېدل

کله چه کوم سړی ډېر ښه او مناسب کارونه وکړی او یا یې دستاینې وړ کارونه سرته رسولی وی، نو یو ډول سرلوړی او افتخار حس کوی؛ په خوشحالی ګرځی او له هر چا سره په ورین تندی خبرې کوی. همداوخت دی چه خلك دده په حقله وایی: «پلانی تل ښه ښه کارونه کوی او په ښه خوی باندې شهرت لری، نو ځکه تل هسکه غاړه ګرځی.»

هغه وخت چه څوك خوښ او خندان ګرځی او دهمزولو په ډله کښې ځان مفتخر ګڼی نو خلك ورته وایی: «څه رنګه هسکه غاړه ګرځی!»

لنډه داده چه هر څوك چه تل ښه کارونه کوی، هغه تل هسکه غاړه ګرځی او سرلوړی وی.

۱۸- ستر ګې په اسمان کښې کېدل (۱)

دااصطلاح دهغه چاد پاره راځی چه کبرجن وی یعنی له ډېره کبره آسمان ته ګوری. ذایوه کنایه اوپه ادبی فنونو کښې (د نسبت څخه کنایه) ورته وایی . «د کریم ستر ګې په اسمان کښې دی.» یعنی ډېر کبرجن دی ځمکې ته نه ګوری. که څه هم دلته ښکاره کبرجن ورته نه دی ویل شوی مګر دده ستر ګوته یې په اسمان ځای ورکړ، نو دچا ستر ګې چه په اسمان کښې وی؛ هغه کبرجن دی یعنی اسمان ته کتل یې په کبر اوغرور دلالت کوی. داستعمال ډولونه یې دا دی : «ستر ګې یې په اسمان کښې دی.» یامثلاً « ډېرې دې ستر ګې په اسمان کښې دی، څوك دې ترپام نه درځی !!» یعنی ډېر کبرجن یې اوپه چا باندې چورت نه خرابوې. ددې اصطلاح بل شکل « آسمان ته کتل »دی مثلاً : «احمد اسمان ته ګوری.» یا کله کله دکبر کلمه هم ورسره یوځای کوی اووایی : «توریالی له ډېره کبره اسمان ته ګوری.»

۱۹ - په پخه چاړه حلالول

کله چه څوك چاته بنده ونیسی ، یعنی په تنګسه یې کښی ګیر کړی دې ته « په پخه چاړه حلالول » وایی ، مثلا داسې به یی فرض کړو چه که کوم کال کاخښی وی اوغله ډېره ګرانه وی . نوځر ګنده خبره ده چه خواران خودغنمو اخستلو دپاره پیسی نه لری . نو که دغنمو یومن په نغده په شل افغانی وی اودغنمو خاوندیې اخستونکی ته یومن په دېرش یاپنځه دېرش په پور ورکړی ، هغه وخت خلك په

(۱) دااصطلاح دښاغلی عبدالشکور (رشاد) د ادبیاتو پوهنځی دادبی فنونو د استاد په درسی نوټونو کښې هم دکنایې په بحث کښی راغلی ده . او موږ یې په شرح کولو کښې له هغهٔ محایه هم اقتباس کړی دی .

دوی باندې تبصره کوی او وایی ؛ « پلانی یې په پڅه چاړه حلال کړ . »
که چېری بیا په هغه خپله ټاکلې وعده پیسې ورنه کړی ، د لته بیاد
پیسو خاوند په پور وړی باندې خپلې پیسې په ګټه کوی نو خلك
وایی : « شریف یې په پڅه چاړه حلال کړ . »

په ځینو پښتنو کښی دارواج دی چه د خپلې خور اولور ولور اخلی .
کله چه زوم د خسر له کوره خپله ښځه وړی ، نو ځینی خسران له خپلو
زوما نو څخه له ولور نه یو څه زیاتې پیسې اخلی چه هغه ته (بابېړی) وایی .
نو چه خسر په زوم باندې بابېړی وکړی ، خلك وایی : « پلانی یې
په پڅه چاړه حلال کړ . »

د نا پوهۍ په دوره کښی به چه یو پښتون له بل پښتانه بدو کړل ،
نو هغه به هم خپل غچ ته منتظر ؤ . نو که به یې د یو ځل په مقابل کښی
څو څو ځلې بدور سره وکړل او یا به یې تکلیف ور ورساوه ، خلکو
به ویل چه : « په پڅه چاړه یې حلال کړ . »

د دې اصطلاح څخه مراد ، یو سړی په تنګ وخت کسی ازارول او
په هغه باندې ځور تېرول دی . داخو څرګنده خبره ده چه که پخوا
به د جهالت او ناپوهۍ په دوره کښی چه چا ، څوك وواژه او بیا به
هغه مړی پرې اثبات شو او د قصاص حکم به پرې وشو ، نو د مړی وارث
به هغه قاتل په پڅه چاړه حلالاوه . دا ځکه چه زحمت پرې تېر شی ،
اوس دا اصطلاح هم له همدې ځایه راوتلې ده . یعنی یو سړی
« په پڅه چاړه حلالول » ؛ په هغه سړی باندې ځور او تکلیف تېرول ،
هغه سړی په تنګ وخت کښی نیول او د توپ په خوله کښی ورکول دی (۱) .

(۱) د پاڼ او پړانګ ترمنځ کېدل ، هم یوه اصطلاح ده چه راتلونکو ګڼو
کښې به شرح شی .

۳۰ - تر خوږ ګوتې نیول

تر خوږ ګوتې نیول، یعنی یو سړی ته دمجبوری په وخت کښی یو ه نری لاره پیدا کول او دهغې په واسطه هغه په دام کښی نیول دی.

دمثال په توګه به یې فرض کړو چه یو بزګر له دکاندار اومغازه وال څخه دخپل ضرورت وړ ډول ډول شیان رانیسی. کله چه دی مغازې خاوند ته ورشی اوهغه شیان په پورځنی رانیسی، نود مغازې خاوند ته خودده اړه اومحتاجې معلومه ده، نوسم لاسی یود مطلب دام ورته ږدی او ورته وایی چه په پور یې نه در کوم ځکه چه ته بپا ماته پیسې نه شی پیدا کولای. نو که ستا په کور کښی هغه لنګه او پیوره غوا را کوې، در کوم یې او که نه پور نه درسره کوم! دلته بزګر دپاڼ او پړانګ ترمنځ واقع شو (۱) ځکه چه له یوې خوا هغو شیانو ته ضرورت لری او له بلې خوا څخه غواهم پرې ګرا نه ده اودخپلخا نې ډوډۍ یې ورلنده کړې ده. نو که دمجبوری له مخې دهغو شیانو په بدل کښی له غواڅخه تېر شی او مغازه وال ته یې ورکړی، په همدې وخت کښی ویل کیږی چه: «مغازه وال، بزګر تر خوږ ګوتې ونیو،»

که چیرې بزګر هغو شیانو ته ډېر ضرورت نه درلودلای، هیڅکله به یې دکاندار ته غوانه وه ورکړې. اودکاندارهم چه هرڅو مره کوشش کړی وای، هغه غوایې لاس ته نه شوای راوستلای. نو ځکه دکاندار هم دبزګر له مجبوری او اړې څخه استفاده کوی اود بزګر کوچنی او لاد وچې او سپورې ډوډۍ ته کښېنوی.

---

(۱) د توپ په خوله کښی و رکول هم یوه اصطلاح ده چه ورو سته به شرح شی.

رښتیا هم داده چه که څوك له داسې سړی سره لاس واچوی چه د هغه ګو ته زخمی وی نو کله یی چه تر خوږ (زخمی) ګوتې ونیسی، هره یوه پرې منلای شی، یعنی دهغه له موټی څخه خپل مطلب راویستلای شی ځکه هغه سړم ددرد له امله مجبوردی چه ګوتې سره خلاصې کړی او په لاس کښی نیولای مطلب بل ته ورکړی. نو دا مجبوری حالت هم پښتنو له همدې حاله سره تشبیه کړی دی.

۲۱ - اوبه ورخړول

«اوبه ورخړول» یوسړی ته بهانه لټول دی. که یو څوك بل چاته په مستقیم ډول سره څه ونه شی ویلای او په غیر مستقیم ډول سره بهانه ورته لټوی او دجنګ اوشخړې دپاره زمینه برابروی، نو دی ته «داوبو خړول وایی. یعنی که یوسړی وغواړی چه بل څوك په جنجال اومشکلا تو اخته کړی، نو په خپله څه نه ورته وایی او بل ورته لمسوی او په هغه شخړه کښی په خپله ګډون کوی. نو دهمدې اوبو خړولو او بل څوك ورته لمسولو په وخت کښی خلك وایی: «شریف له مخمود څخه نه دریږی او تل اوبه ور خړوی، آخر به یو وخت په غم سره اخته شی.»

دا داسې مثال لری لکه چه دوه کسه په یوه واله لراو بر ناست وی او هغه بر سړی وغواړی چه له ده سره په جنګ او جنجال اخته شی نو مخامخ خوځه نه شی ورته ویلای مګر له پاسه اوبه ورخړوی. نو کله چه هغه بل سړی دده دا قصداً اوبه ورخړول وګوری، سم لاسی دواړه سره نښلی.

لنډه داچه «اوبه ورخړول» یعنی یوسړی ته په غیر مستقیم ډول سره ټونګه وراچول او دجنګ اوجنجال چلنج ورکول دی . استعمال یې داسې دی :

«پلانی ، پلانی ته اوبه ورخړوی» یا «احمد له محمود نه کرار نه کښېنې او تل اوبه ورخړوی .» یعنی احمد، محمود ته بهانه لټوی اوټونګره وراچوی .

۲۲ - په حق سترګې پټول

«په حق سترګې پټول» له حقه منکر ېدل او هغه نه منل دی . دااصطلاح یو بل شکل هم لری او هغه «له حقه سترګې پټول» دی مګر لومړنی شکل یې ډېر باب دی . دااصطلاح هغه وخت استعمالیږی چه څوك د چا حق وخوری اویا یی حق نه منی .

«په حق یې سترګې پټې کړې .» یا «له حقه یې سترګې پټې کړی .» یعنی حق یې وخوړ، په حق منکر شو او و یې نه مانه . «په حق سترګې پټوی» یعنی حق خوری اونه یې منی .

کله کله له دې اصطلاح سره یوه بله جمله هم یو ځای کیږی اوداسې راځی :

«غنی ډېر حرام خوردی، دهرچا په حق سترګې پټوی .» یعنی له حقه منکریږی .

یو شاعر وایی :

چه په حق د مسلمان کړی سترګې پټې
په څلور مذهبه هغه حرام خوردی

۲۳- دکورمې په اوبواوبول

دا اصطلاح دهغه چادپاره راځی چه هغه ترنوروځان لوړ،

معتبر، کلانکار اوهو ښیار بولی. له هرچاسره چه پور تنی مفکوره موجوده وی نو خلك وایي: «پلانی یې د کورمې په اوبو اوبوی» لکه څه رنګه موچه دمخه وویل، دا اصطلاح هغه وخت دیو چاد پاره راځی چه هغه په خبرو، مجلس اونورو کارو کښې ترنورو ځان چالاك او دمخه بولی.

دا اصطلاح یو بل شکل هم لری چه کټ مټ همدغه مفهوم افاده کوی اوهغه «بره یې ځړول» دی.

نو که څه هم ددغو دواړو اصطلاحاتو ترکیبونه بېل بېل دی مګر دمعنا اومفهوم له مخې کوم توپیر نه سره لری او یو ډول کیفیت پکښې پټ دی. ترکومې اندازې چه ددې اصطلاحاتو شا نزول مونږ له خلکو څخه پوښتلی دی، تقریباً ټولو یو ډول ځواب راکړی دی اودلته یې لنډیز راوړل کیږی.

۱- د کورمې په اوبو اوبول: کورمه په پښتونستان کښې یوه علاقه ده چه د (توریو) قامونه پکښې اوسی اوپه دې علاقه کښې یو سیند هم بهیږی نو په زرمل کښې چه له چاسره دځان منی اوخود پرستی مفکوره موجوده وی اوپه هرڅه کښې ترنوروځان وړاندې بولی، خلك وایي چه ټول اولس خپل اسونه د کلی په اوبو اوبوی مګر پلانی یې د کورمې په اوبو اوبوی اوخپل اس کورمې ته بیایې. دا ځکه چه ځان ترنورو کلانکار بولی. نو اوس دا اصطلاح ډېره مشهوره ده.

۲- بره ځړول: هغه وخت چه یو ټولی خلك کومې کوټې ته ننوځی، نو خپله وسله له ټولو څخه بره او اوچته ځړوی. دا ځکه چه دی خپل ځان نسبتاً نورو ته لوړ وینی.

د دې اصطلاحاتو استعمال داسې دی:

«احمد یې د کورمې په او بو او بوی» یا «محمود یې بره ځړوی.»

۲۴- غوړه ډوډۍ و هل

غوړې ډوډۍ ته په پاړسی کښې «نان چرب ومکلف» وایی، او (وهل) دلته د(خوړلو) په معنا دی. هر کله چه څوك غوړه ډوډۍ وخوری نو وایی: «ښه غوړه ډوډۍ مې ووهله» یا «غوړه ډوډۍ مې ووهله.»

په پاړسی کښې هم دا اصطلاح ترجمه شوې ده او وایی: «خوب نان مکلف رازدم.» یا «خوب نان چرب و مکلف راز دم.»

په یوه ژبه کښې دداسې اصطلاحاتو ترجمه کول هم ډېر ګران دی. دمثال په توګه که موږ داپورتنۍ اصطلاح په نظر کښې ونیسو نو په بله ژبه کښې ددغې اصطلاح معادل پیدا کول ضروری دی او که ټکی په ټکی ترجمه شی ښایی چه معنایی صحیح نه شی. مثلاً که په انګلیسی کښې ټکی په ټکی ترجمه شی، ښایې چه یو انګلیس دافکر وکړی چه ډوډۍ یې په لغته یا په سوك اویا په لرګی وهلې ده (۱)

د دې اصطلاح د استعمال مورد داسې دی:

«ښه غوړه ډوډۍ یې ووهله.» یعنی مکلفه ډوډۍ یې وخوړه.

«د احمد تره مېلمستیا کړې وه، مېلمنو ته یې ښه غوړه ډوډۍ ورکړه.» «موږ دشریف کره مېلمانه وو، ښه غوړه ډوډۍ مو ووهله.»

۲۵- لار ور سره کول

لارور سره کول، یعنی حق ته ورسره کېناستل، دمنځګړی حکم

(۱) د ښوونکی مجلې د۱۳۲۸ کال ددوهمې اودریمې ګڼې ۲۵ مخ - د (ژبه او ثقافت) تر عنوان لاندې د ښاغلی روهی مضمون.

او فیصله منل. دا اصطلاح هغه وخت استعمالیږی چه ددوو کسو سره دعوه وی او یا یې په منځ کښې کوم بل جنجال موجود وی. نو لارور سره کول دامعنا لری چه دواړه به یو بل دریم سړی ته سره کښېنی چه هغه ددوی په منځ کښې حق او باطل معلوم کړی یا ګرم او ناګرم خرګند کړی.

ددې اصطلاح په اړخ کښې یوه بله اصطلاح هم شته چه هغه: «لار تېرول» ده.

لار تېرول، د(لارونی = فیصله کوونکی) کاردی او لار ونی (منځګړی، دریم، منصف او ثالث بالخیر) بایدد(لارې تېرولو) لیاقت صلاحیت او قدرت ولری. نو لار ورسره کول، یعنی لارونی ته ورسره کېناستل دی او، لار تېرول، یعنی ددوو کسو په منځ کښې له قضاوت نه وروسته حکم کول او حد ټاکل دی. دالیارې له ډېرې پخوا زمانې څخه راهیسې په پښتنو کښې موجودې دی او (دمنولیارې) یې بولی (۱).

کله چه دوه کسه (لارونی) ته سره کښېنی او هغه لار ورتېره کړی، بیا نو که هر یو هغه لیار ونه منی؛ هغه به ناغه پرې کوی. په لیار تېرولو کښې یو شرط دادی چه دواړه مدعیان باید لارونی ته، دمخه تردې چه لیار تېره کړی، بر مته (ټوپکو نه یا نغدې پیسی) سره کېږدی. بیا نو که له هغو دووکسانو څخه هر یو دا لیارو نه منی، بر مته یې دهغه بل ده. ددی اصطلاح استعمال داسې دی:

«لار راسره وکړه!» یعنی حق ته راسره کښېنه یا منځګړی ته راسره کښېنه.

«لارې ورسره وکړه.» یعنی دریمګړی ته ورسره کېناست.

(۱) د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک- د پښاغلی حبیبی تالیف.

«پلانی ناروا دی، له پلانی سره لارنه کوی.» یعنی دریم ته نه ورسره کښېنی.

دا اصطلاح یو بل شکل هم ئری اوهغه «لارورسره وړل» دی. مثلاً وایی:

«کریم ناروا کوی، له شریف سره یوه لارهم نه وړی!» یعنی بالکل حق ته نه ورسره کښېنی اودریم حکم نه منی.

ددې اصطلاح بل شکل دادی. په لاره ورسره تلل- یعنی پلانی راسره په یوه لاره هم نه ځی.

یعنی یوه لارهم راسره نه منی.

۲۶ - وړاندې وروسته کېدل

«وړاندې وروسته کېدل» یا «زړه او نازړه کېدل»، په یو کار کښی د تردد معنا لری. دا اصطلاح دهغه چا دپاره راځی چه هغه د کوم خپګان یا یوې بلې سودا په وجه نه شی کوی لای چه د یو کار دپاره کلك تصمیم ونیسی، یا یوه ثابته نظریه ښکاره کړی.

ډېر ځله داسې پېښېږی چه سړی له خپل ملګری سره یو ځای ته د تللو اراده وکړی یا د یو کار د کولو اراده اوعزم وکړی، نو که سړی فکر ورته وکړی کله کله پـه خپل ملګـری کښې تـرد د پیدا کولای شی. یعنی کله هغه ملګری سړی ته مثبت او کله بیامنفی ځواب ورکوی. کله دیو کار په کولو کښې دګډون سرورته ښوروی او کله بیا بېرته بېزاریږی. نو په فکر یا کار کښی دا تردد یې، په تګ کښی له وړاندې وروسته کېدلو سره تشبیه کـړی دی، او ورته وایی: «ولې وړاندې وروسته کېږې؟!» یعنی: ولې متردد یې ولې زړه نازړه کېږې - ولې دو شکه یې او ولې یو زړه نه لرې!

« احمد وړاندې وروسته کېده» یعنی متردد ؤ او فکر یې یو ې خوا ته نه ؤ متوجه .

د هغه چا د پاره چه په یو کار کښې متردد وی او وړاندې وروسته کیږی ، یو نوم هم شته او داسې سړی (د دوو زړونو خاوند) بولی یعنی عوام په دې ګومان دی چه یو زړه یې ورته د یو کار د کولو اجازه ورکوی او بل زړه یې منع کوی .

په پارسی کښې هم د داسې سړی د پاره یو نوم شته یعنی (دو دل) یې بولی د فارسی دا کلمه ځینو پښتو ته هم ننوتې ده ، او پښتا نه متردد او زړه نازړه سړی ته کله کله وایی : «ولې دو دل یې ؟» یعنی ولې ثابت فکر نه لرې . (۱)

لنډه دا چه هر څوك چه کله تور وی او کله سپین ، کله دیوې نظریې طرفدار وی او کله د بلې ، کله زما پرخوا وی او کله ستا ، نو دا اصطلاح تل دهغه د پاره راوړی . دا اصطلاح په یوه لنډۍ کښې هم داسې لیدل کیږی :

څه رنګه وړاندې وروسته کیږې
ګکه چه زړه دې له جانانه سره وینه

۲۷ ـ ځنې لویېدل

دا اصطلاح دهغه چا د پاره راځی چه هغه یې بره ځړوی او ځان په لویه لوټه خپړوی ، او له خپلې شړۍ سره پښه نه غځوی . نو کوم وخت چه یو سړی بی دلیله ځان تر نورو لوړ ګڼی او جایداد پکښې نه وی ، نو خلك وایی : «ځنې لویه شوې ده .» یعنی د پوهانو په

(۱) مګر نور پښتانه دغسی سړی ته (درۀ زړی) وربې فلانی دوه زړی دی او یوه خبره نه کوی .

اصطلاح ، ځان له خپل فکر څخه لوړ او لوی بولی . له هر چا چه لویه شی ، هغه ځان نه پېژنی او له خپلې دایرې نه د باندې ګرځی لنډه دا چه دا اصطلاح د هغه چا دپاره راځی چه هغه ، لکه څه رنګه چه ځان ښیی هغه شان نه وی او یا لکه څه رنګه چه وی ، هغه شان ځان نه ښیی .

۲۸ - ورځ یې برابر پدل

د یو چا دپاره هغه وخت دا اصطلاح راځی چه دهغه ډېرې هیلې سرته ورسیږی او د ژوند شرایط یې مساعد وی .

که مونږ د افرادو د ژوند شرایط تر غور لاندې ونیسو ، د ځینو د ژوند شرایط ښه او مساعد دی او د ځینو د ژوند شرایط بیاچپه او نا مساعد لیدل کیږی چه دا ټول څرګند علتونه لری .

نو د هر چا د ژوند شرایط چه مساعد لوپدلی وی ، یعنی نفسی خواهشات یې تر یوه حده پورې سرته رسپدلی وی ؛ خلك وایی : «ورځ یې برابره ده .» یا «ورځ یې برابره شوې ده» یعنی مطلبو نه یې پوره کیږی او ارمانونه یې خیژی .

ددې اصطلاح په خوا کښی یوه بله اصطلاح هم شته او هغه ددې اصطلاح برعکس ده . مثلاً کله چه دچادژوندشرایط چپه اونامساعد ولوپږی او نفسی خواهشات یی نه پوره کیږی او مطلب لاس ته نه شی راوستلای ، نو خلك وایی : « ورځ یی ګرځپدلې ده» یعنی په

اصطلاح ، بخت يې چپه شوی دی او طالع يې ګرځېدلې ده . لنډه دا چه : «ورځ برابرېدل» مثبته او« ورځ ګرځېدل» منفی نتیجه لری، او دواړه یوه دبلې عکس ده .

۳۹ ـ په نری پاڼ دربدل

دااصطلاح یوه نری غوندې تشبیه ده او په مفهوم پوهېدل يې لږ شانته ګران دی .

څوك چه په نری پاڼ ولاړوی ، که لږ حرکت وکړی یاوښوری، پاڼ ړنګیږی اودی ښکته لویږی . نو دهغه چا حالت، چه هغه محض په بهانه بندوی ، هم دهمدې نری پاڼ له ړنګېدو اودده له لویدو سره تشبیه شوی دی. او س به په یو څو مثالو کښې ګرانو لوستونکو ته دااصطلاح ښکاره کړو :

۱ ـ که یو کوچنی هلك خپلې مور په کور کښې خپه کړی او یا وهلی وی نو دی سم لاسی په یوه ګوښه کښې خپه دریږی او یا ها خوا دې خوا ګرځی .

کله چه هغه کوچنی ته محض لاس وروړی هم دی په ژړا کیږی نو په دې وخت کښې ورته وایی : « او هو ، داڅومره په نری پاڼ ولاړ یې ؟ »

۲ ـ دد وو کسو په منځ کښې چه پخوانی کینه او خوابدی موجوده وی ، چه سره مخامخ شی او په یوه موضوع باندې خبرې شروع کړی ،

نوله هر یوه سره یې چه بد کړی وی ، هغه په روغو خبرو کښې خرابه مالګه ګډوی او په قار کیږی یا په اصطلاح ، دجنګ دانه اخلی . په دی وخت کښې نور خلك وایی : « احمد او محمود خبرې سره کړې محمود په نری پاڼ ولاړ ؤ ، او په جنګ یې پیل وکړ . » استعمال یې دا سې دی :

« زمری په نری پاڼ ولاړ ؤ ، چه لاس مې ورووړ ، پړینګ په ژړا شو . »

یا مثلا : « کریم هسې په نری پاڼ ولاړ دی ، چه څوك څه ورته ووایی ، دی سم لاسی جنګ کوی . » لنډه داچه دلندو خاورو لږې او به بهانه وی ، نو هغه څوك چه په نری پاڼ یې ولاړ بولی ، په یوه نری حرکت او یا یوه کوچنۍ خبره یې وضعیت او حالت ډېر ژر تغییر مومی او دبدن په غړو کښې یې عمومی ګډوډی پېښیږی .

۳۰ - سترګې یې دخپړۍ په پټ پخېدل

داصطلاح دسپین سترګی (شوخ چشم) هلك یا نجلۍ دپاره راځی او په کوچنیانو پورې محدوده ده . که څوك کوم هلك یا نجلۍ ته دیو کار دکولو امر وکړی او هغه هلك یا نجلۍ دده امر ، و نه منی او هغه سړی بیا څو څو واری امر پری وکړی او یا خواهش ځنی وکړی او هغه هلك یا نجلۍ یې بیا هم ونه منی ، نو ورته وایی : « سترګې دې دخپړۍ په پټ پخی دی ! » یعنې ډېر سپین سترګی او نامنلی انسان یې :

دمثال په توګه ، که یو سړی دچا دروازې ته ورشی او څوك یې په کار وی . داخو څرګنده خبره ده چه دی دهغه سړی کره بې له اجازې نه شی ورتلای نو که په دروازه کښې دهغه سړی کوچنی زوی یا لور ووینی او ورته ووایی چه : «ته ورشه پلار ته دې ووایه چه بهر را ووځی ! » او بیا هلك یا نجلۍ دده خبره و نه منی او ورته

ووایی چه : «زه نه شم ورتلای ! » او هغه سړی بیا بیا و ر ته
و ا یی چه : « ته ورشه پلار ته دې ووایه چه بهر ر ا و و ځی ! »
او هغه هلك یا نجلۍ بیا بیاهم دده خبره‌و نه منی ، نو دلته‌دااصطلاح
دهغه نامنلی او سپین ستر ګی هلك یا نجلۍ د پاره راځی او و رته
وا یی : « ستا خو ستر ګې د څېړۍ په پټ پخې د ی ، بېخی خبر ه
نه منې !! »

که یو کو چنی شوخی کوی او پلار یامور یې هغه کو چنی له
شوخۍ څخه منع کوی او دی نه‌منع کیږی او بیا بیاهم‌هغه کوچنی
منع کوی اودی یې خبره په ډاګ واچوی ، نو ورته‌وایی : «نامنلیه[!
ستر ګې دې دڅېړۍ په پټ پخې دی ! » (نور بیا)

ښاغلی انورخان انوری

له تیرانه

پسرلی بیا کړې نښانې بدلې
شمعې ته راغلې پروانې بدلې

دکائناتو رنګ بدلون راوړ
د طبیعت شوې افسانې بدلې

دشاعر زړه ته هم ډېر څه راغلل
د تصور شوې خزانې بدلې

دعیش پرستو د خوښۍ ورځې شوې
د محفل رنګ کړې مېخانې بدلې

ساقی میخوار وآشنا یانو وته
لاس کې راا خلې پیمانې بدلې

پېغلو اوربل کې دی پییلی ګلان
بیا دګو در شوې یارانې بدلې

خاونده څه عجیبه کیف دی پکښې
بلبل کړی ګل سره کانې بدلې

دنوی وخت سره ساز هم شو نوی
مطربان وایی ترانې بدلې

هرڅه بدل بدل، بدل شو جهان
رقم رقم شوې خیلخانې بدلې

زما دخوږ وطن ښایسته سپرلیه
په تا هم راغلې زمانې بدلې

ما (انوری) ته وې بدل جهان کې
خپل نصیب نه کړې بهانې بدلې

پته

غازی واټ ، شمالی برخه ، نوی ښار
کابل- افغانستان
دپښتو ټولنې درئیس
تېلفون لمبر ۲۰۳۵۰
کابل مجلې دتېلفون لمبر ۲۱۷۱۶

داشتراك بیه

(په افغانۍ)

په کابل کښې ۴۰
د هېواد په نورو برخو کښې ۴۶
زده کوونکو ته نیمه بیه :
۱- کابل ۲۰
۲- اطراف ۲۳
د باندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالر
دیوی ګڼې بیه : ۴
د شپږو میاشتو اشتراك هم منل کېږي
د پښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانك
او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷
داشتراك بیه په اداره کښې هم اخیستل کېږي

(۵۳۴)

پرله پسې ګڼه

(۱)

دولتی مطبعه

KABUL

Monthly Journal Of The Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on Literature, Philosophy, Philology, Sociology, Art and related fields

NOV 30 1964
COPY

President of the Academy Pohand Reshteen
Editor: M. Sidiq Rohi
Co-editor M. Moman Patwal
Address Pashto Academy
Kabul, Afghanistan